د کرنې، اوبولګولو او مالداری وزارت
د بڼوالۍ څانګه

# د افغانستان د میوه لرونکو ونو د بوز غلي صنعت دروزنی لومړۍ ګنه



1

## د افغانستان د میوه لرونکو ونو د بوز غلیو لرونکو د ټولنی لاربنود

لاربنود

لیکونکی: لاورا وي. امبورګیا ، د بڼو د پرمختیایی پروژی سلاکاره
د ګڼې د خپرونی ترتیبوونکی: ګریک کولن، د بڼوالۍ د پراختیایی پروژی د ډلې مشر

د بڼوالۍ پرمختیایی پروژه
اروپایي کمیسیون _ اروپایي مرسته / اسي/ ۲۰۰۶/ ۱۱۹۹۸٤
اروپایی ټولنی لخوا تمویله شوی پروژه

*لومړۍ ګڼه:* دمیوه لرونکو ونو دبوزغلیو صنعت

په دی ګڼه کی لاندی کتابونه شامل دي

- *لومړی لارښود: دمیوه لرونکو ونو د بوزغلیو لرونکو تولنه*
- *دوهم لارښود: د مورنیو ونو بوزغلی*
- *د ریم لارښود: دمیوه لرونکو ونو د بوزغلي تولید*


*لیکوونکی:*
*لورا و. امبوګیا* دبنوالی د پراختیایی پروژی، *مشاور*

دګڼیی د خپرونو مرسته کوونکی:
ګریګ کولن، د بنوالی د پرمختیایی پروژی دټیم آمر

*اصلاح کوونکی کمیټه:*
ګریګ کولن،د بنوالی د پرمختیایی پروژی د ټیم آمر
خوان ایګناسیو ترایوس، دبنوالی د پرمختیایی پروژی دبنوالی متخصص
ستیون رایت، د بنوالی د پرمختیایی پروژی روزنیز متخصص
ورنون، د بنوالی د پر مختیایی پروژی د بوزغلی روزنی مشاور

*پښتو ژباړه:*
پوهنمل مسعود سعید

*دژباړی بیا کتوونکی:*
پروفیسور غلام رسول صمدی، حاجی ګل محمد "آریوبی"



اکتوبر، ۲۰۰۹

## Acknowledgements

*We express our gratitude for the contributions received by the following institutions: Roots of Peace – Afghanistan; Aga Khan Foundation – Afghanistan. We very much appreciate the support and help received from the national and provincial staff of the PHDP; in particular, we thank Sharafuddin Sharaf, M. Karim Kashmiri, Moheb Khademi and M. Muzaffar Athar for their technical assistance, photographs and sharing of lessons learned.*

## References

*The material presented in the Training Manual Series 1 The fruit tree nursery industry of Afghanistan, draws on the following sources:*

Adams, C.R., Bamford, K.M., Early, M.P. 2008. *Principles of Horticulture.* 5th Edition. Elsevier Ltd. UK.

ATTRA. 2009. *Sustainable Agriculture Series*. National Sustainable Agriculture Information Service [online].

Blanke, M.M. 1996. *Soil respiration in an apple orchard*. Environmental and Experimental Botany 36:339-341.

Childers, N.F., Morris, J.R., and Sibbett, G.S. 1995. *Modern Fruit Science*. Horticultural Publications, Florida.

Diekmann, M., Putter, C.A.J.. 1996. *Stone Fruits*. FAO/IPGRI.

Dumroese, R.K., Landis, T.D., Luna, T. and Hernandez, G. 2008. *Simple methods for raising tree and shrub seedling in Afghanistan.* USAID-USDA.

Earnshow, S. 2004. *Hedgerows for California Agriculture*. Western Sustainable Agriculture Research and Education. Community Alliance with Family Farmers.

European and Mediterranean Plant Protection Organization. 2000. *Scheme for the Production of Healthy Plants for Planting - Nursery Requirements* [online].

Ferree, M.E., Krewer, G. 1999. *Propagating Deciduous Fruit Crops Common to Georgia*. Cooperative Extension Service University of Georgia Colleage of Agricultural and Environmental Sciences.

FAO. 2009. FAOSTAT Database [Online].

Foerster, P., Varela, A. And Roth, J. 2001. *Best Practices for the Introduction of Non-Synthetic Pesticides in Selected Cropping Systems*. Eschborn.

Giunchedi L. 2003. *Malattie da virus. Viroidi e fitoplasmi degli alberi da frutto*. Il Sole 24 Ore, Bologna.

Hartmann, H.T., Kester, D.E., Fred T. Davies, F.T.Jr, and Geneve R.L. 1997. *Plant propagation: principles and practices*. Prentice Hall, New Jersey.

Jackson, D.I. and Looney, N.E. 1999. *Temperate and subtropical fruit production*. CABI Publishing, London, UK.

Malik, M.N. 1994. *Horticulture.* National Book Foundation. Islamabad.

Magdoff, F. and van Es, Harold. 2000. *Building soils for better crops*. Sustainable Agriculture Network.

Ministry of Agriculture, Irrigation and Livestock. 2005. *Master Plan for Agriculture, Irrigation and Livestock.* Afghanistan.

Newman, Y.C., Wright, D.W., Mackowiak, C., Scholberg, J.M.S., and Cherr C.M. 2007. *Benefits of cover crops for soil health*, IFAS Extension, University of Florida.

Pesticide Action Network (PAN). 2005. *Field guide to Non-chemical pest management.* Hamburg.

Rost, T., Barbour, M., Stocking, C.R., Murphy, T. 2006. *Plant Biology*. 2nd Edition. University of California, Davis. Thompson Brooks/Cole.

Sandor, F. 2007. *Vegetative propagation techniques*. Roots of Peace - USAID, Jalalabad-Afghanistan.

Sandor, F. 2008. *Soil testing*. Roots of Peace - USAID, Jalalabad-Afghanistan.

Waterman, P., Hogue, E.J., and Quamme, H. 1993. *The Home Nursery - A Production Manual.* British Columbia.

Wertheim S. J., 1998. *Rootstock Guide*. Netherlands.

Permission is granted to reproduce any or all portions of this publication provided the publisher, title and editor are properly acknowledged.

# لړلیك


سریزه ۱

د افغانستان د بڼوالۍ سکتور ۳

۱. په افغانستان کی د بڼوالۍ اوسنی حالت ۳
۲. په افغانستان کی د میوه لرونکو ونو دبوزغلی روزنی صنعت دپرمختیا تګلاره ۵
۳. په افغانستان کی د بڼوالی دټولنی د جوړښت حالت ۶

د بوزغلی لرونکو ټولنه څرنګه رامنځ ته کولای شي ۹

۱. دغړیو د غوښتنی سره سم د ټولنی د مناسب ډول جوړول ۹
۲. د ټولنی دغړو پیژنګلوي ۱۰
۳. د اسانتیاود برابرولو ونډه ۱۰
۴. د بوزغلی لرونکو دټولنی د ملاتړ ترویجي خدمتونه ۱۰

د ټولنی غونډی ۱۳

۱. دپیل ټکی : دټولنی دجوړولو د موخی پیژندنه او پر هغی یو ځای کار کول ۱۴
۲. د بوزغلی لرونکو دټولنی لپاره یو حقوقی چوکاټ ۱۶
۳. د رسمی ټولنی مینځ ته راوړل ۱۷
۴. د ټولنی دکار کولو پلان او وروسته د بوزغلی لرونکو سره مرستی ۱۸

دبازار موندنی او مدیریت لارښود ۲۱

۱.بازار موندنه څه شي ده ۲۱
۲. دبوزغلی لرونکو لپاره پلان جوړول ۲۲
۳ دبازار ونډه ۲۷
۴.دبازار پلان جوړول ۲۷
۵. دخرڅلاو پلان جوړول ۲۸
۶. دمحصولاتوپراختیا ۲۸
۷.دخرڅولو ګټی ۲۹
۸. د نیالګیو دبیی ټاکل ۳۰
۹. د ټولنی پروګرامونه ۳۱

ضمیمی ۳۳

لمړی ضمیمه: د افغانستان د بوزغلي لرونکو ملي سازمان (ابلمس) ۳۳
دویمه ضمیمه: د ټولنی لخوا د منظور شوي قانون بیلګه ۴۱
دریمه ضمیمه: د افغانستان د بوزغلي لرونکو د ملی سازمان (ابلمس) دمیوه نیوونکو ونو د تصدیق سستم ۴۷

**لومړي لاربښود:** د مېوه لرونکو ونو د بوزغلیو د روزنکو د تولنو دلاربښود څخه موخه داده چه نوي او د وخت سره سم هغه ګټور معلومات چي په افغانستان کي د بوزغلیو د روزنکو د تولنو د مینځ ته راوړلو لپاره ګټور دي، برابر کړي. چه لاندي موضوع ګانی پکي د څیړلولپاره خوښی کړی شوي دي:

- په افغانستان کي د بڼوالی اوسنی حالت
- د بوزغلیو دروزنکو د ټولنو د مینځته راتګ لپاره دلایل.
- هغه قانوني اړتیاوي اومهم اداري پړاونه چي د بوزغلیود روزنکو د ټولنو د مینځ ته راوړلو لپاره اړین دي.

سر بیره پر دی نومورړي لاربښود نورهغه معلومات د بوزغلیو د تصد یقولو د پروسي په اړوند برا بروي چي په افغانستان کي به په راتلونکي کي سرته رسیږی.
روزونکي او د ترویج پرسونل به هغه شیان (سامان الات) چه د یوی تولنی د مینځ ته راوړلو اوهغه لاربښوونی چه ددی ټولنو لپار دانساني سرچینوپه پراختیا کی مرستندویه دي، پیدا کړي.
دا لاربښود د روزنکو لپاره په دی منظور طرح شوی دی تر څو د هغو بوزغلیو د روزنکو سره مرسته وکړي چي د بوزغلیو د مینځ ته راوړلو او دهغوی دروزلو سره مینه لري. په همدی توګه نومورړي لاربښود د ډیرولوستونکو لپاره یو ښه سرچینه ده.
دبیلګی په ډول: هغه اداری چي د نورو کرنیزو تولیدي تولنو سره کار کوي.

## د لاربښود موضوع ګانی:

نوموړی لاربښود په څلورو برخو ویشل شوی دی:

**۱- لومړی برخه:** یی په افغانستان کي د بڼوالی دسکتور په اړوند او همدا رنګه په هیواد کی د میوه لرونکو ونو د بوزغلیو دکاروبار د پرمختګ لپاره معلومات اوکړنلاره برابروي.
**۲- دوهمه برخه:** یي هغه دلایل برابروي چي ولي کرنیزي تولنی کولای شي چي په افغانستان کی د بڼوالی د څو کلن سکتور د نوي کولو لپاره یوه ګټوره وسیله شي او همدارنګه د دټولنو دمینځ ته راوړلو لپاره لاربښووني برابروي
**۳- دریمه برخه:** یعنی "د ټولنو د غونډو اسانتیا" ته د اسانتیاو د را وړونکو لپاره دا سي لاربښووني برابروي چي د تولیدونکو سره د میوه لرونکو ونو د بوزغلیو د تولنو په مینځته راوړلو کي مرسته کوي. همدا رنګه دا برخه د بوزغلیو د تصدیق ورکولو د نقشي په اړوند سپارښتني هم برابروي
**٤- څلورمه برخه:** د میوه لرونکو ونو لپاره د بازار موندني د ښو طریقو په برخه کي معلومات برابروي. همدارنګه په دې برخه کي د تولنو د پروګرامونو تشریح دهغوی د کارکولود پلان د یوې برخې په توګه شامل دی.

# لومړی برخه

## د افغانستان د بڼوالۍ سکټور

د لومړۍ برخې د څېړلو څخه وروسته به تاسې دا وړتیا پیداکړۍ چې :

- د افغانستان د بڼوالي په محتویاتو باندی پوهیدل .
- د باغ لرونکو د منظم اویوځایی کار په ګټو پوهیدل
- په افغانستان کی د میوه لرونکو ونو د بوزغلي لپاره د تنظیم په کړنلاره پوهیدل.
- د بوزغلی روزنکو دټولنو په مینځ ته راوړلو او پرمخ بیولو کي د بوزغلی روزونکو لارښوونه

## ۱. په افغانستان کي د بڼوالي اوسنی حالت

د افغانسان دبڼوالی دسکتورکړنلاره چه د افغانستان په ماستر پلان کی تشریح شوی ده داسی وړاندیزکوي چه بڼوالي دغوښتنی او د صادراتو په بنسټ د ولاړ سکتور په توګه ځانګړی شي اټکل شوي چه د ۶۰۰۰،۰۰۰ په شاوخواکی باغ لرونکی په ۱۰۰،۰۰۰ هکتاره ځمکه کی دباغونو حاصلات د یوی دزیاتی خړوبونی پواسطه روزي. په نظرکی ده چه دا نوی او عصری سکتوربه په هیواد کی میلونونو خلکو ته د ژوندانه بدیل برابرکړی ( دکرنی وزارت ۱۳۸۴).

### د بڼوالی سکټور په افغانستان کی دسختو خنډونوسره مخامخ دی:

دبڼوالي پراختیا په ټول اقتصادي ځنځیر کي دستونزوسره مخامخ ده. د ۱۹۷۰ میلا دي کال په لسیزه کي د افغانستان بڼ روزنه په نړیوال مارکیټ کی د یو بریالي سیالی کوونکی په توګه ګڼل کیده (دمثال په ډول دممیزو په نړیوال مارکیت کی دافغانستان برخه په سلوکی ترشلو ډیره وه ( دکرنې وزارت ۱۳۸٤) نن دا سکتور په جدي توګه دمینځه تللو په حالت کی دی د څو لسیزود شخړو او د بڼونو دتخریب د پانګی او د نوی تکنالوژۍ د نشتوالی له امله نژدي په بشپړ ډول نړیوالو مارکیتونوته دلاس رسي دله مینځه تللو سبب شو. په افغانستان کی مناسب قوانین او مقررات اومنظم مالیاتي سیستم پرمختګ ندی کړی د بیلګی په توګه له ګاونډیوهیوادونو څخه وارداتي ونو ته د داخلیدلو اجازه ورکړ شوی ده چه امکان لري دویجاړونکو حشرو او نارغیولرونکی وي اود نباتي صحی ساتنی د کنترول څخه پرته په بازارکي پلورل کیږي سربیره پردی په افغانستان کي دبڼوالی په سکتورکی معتبر احصاییوي معلومات مثلا د بوزغلیو شمیر، موجوده ډولونه، دحشراتو او نارو غیو تهدید او د کورنیو اوبهرنیو بازارونو په برخه کی معلومات په لاس کي نشته دی. زیرمی، پروسس ، ترانسپورت اوبازارموندنی لپاره دمناسب بنسټ نشتوالی هم دبڼوالی دپرمختګ په وړاندي سختی ستونزي رامینځ ته کړي دي.

پداسې حال کي چې د بوزغلیود روزني وړتیا لوړه شوی ده. مګر دا پرمختګ په نه انډول او یوڅه د غلطو خبرتیاو پر بنسټ ولاړلیدل کیږي چي یو تر ډیری اندازی بوزغلي مینځ ته راغلي یا جوړی شوي دي . اوله اندازی ډیری بی کیفیته ونې تولید شوی دي ، ځکه چې د ترویج اوسنی وړتیا پدې سکتور کي داړتیا سره متناسبه نده، نو د بازار موند نې په برخه کي زده کړې او ملاتړ د بوزغلیو په شمیر کي د ډیروالي سره برابری نه دي.

دیو ځانګړي بوزغلی په سطح تخنیکي او مدیریتي وړتیا تر ډیره حده کمزوری ده او په مستقیمه توګه د تولید د تنظیم په وړتیا باندې د غوښتنې پر بنسټ په یو ولاړ بازار باندې اغیزه کوي. دا نیمګړتیاوې هغه وخت څرګندیږي چې هڅه کیږي، ترڅو هیواد بیا نړیوالو بازارونو ته لاره پیداکړي د نباتي حفظ الصحي او روغتیا معیارونه په زیاترو بین المللي مارکیټونو کې چې افغانستان ورپکی ۴۰ کاله وړاندې بریالي ؤ ډیر جدي او په کلکه تر غور لاندې نیول کیږي. برسیره پردې کرنیزو وسایلو او لوازمو لکه دکرنیزوتخمونو، کیمیاوي سرو، وسایلواو ماشین الاتو ته لاس رسي ډیرو بڼ لرونکو ته ستونزه ده.په ځانګړي ډول پورونو ته لاس رسی ډیرستونزمن کار دی په نتیجه کې تر اوسه لاهم له دی زړې تولیدي تکنالوژۍ څخه په پراخه کچه ګټه اخیستل کیږي . په احتمالي ډول ددې خنډونو مهمه پایله د داسې تجارتي بوزغلیو نشتوالی دی چې د داسې نیالګیو د تولید وړتیا ولري چې په نړیوال بازار کې د بریالیتوب لپاره لازم معیارونه برابر کړی شي، بڼ لرونکي نیله بوټو او د لوړکیفیت لرونکوډولونوپه برخه کې د خپلو بڼونو دغوره والي لپاره ډیرې لږې زیرمې په واک کې لري.



عکس اخستونکی: ادي ورنون

**د ټیټ ارزښته میوه لرونکو ونو ستونزه :-**

*د کینې خوا په تصویر کې د هرات په ولایت کې ۲۰۰۸ میلادي کال د فبررۍ په میاشت کې په یوه بوزغلی کی پیوندي نیالګي ښودل شویدي دی، د ا ونه د الو یو نیالګی ګڼل کیږي، خوپرته د پیژندګلوی پاڼی، ډول او د مورنې نیله بوټې پژنګلوي نه لري.*

*- د نیالګي روغتیایي حالت نا څرګند دي او ممکنه ده چې نیالګي په ویروسونو یا نیماتوډونو اخته شوي وي .*

*- نیالګي کوږ ښکاري باید نوموړي نیالګی باید د پیوند د لګیدلود ځای سره بیا پریکړای شي چې لدې امله یې یو کال وده ضایع کیږي .*

*- نیلي یی وچې شوي دي لدې امله به دا ونه له کښینولو څخه مخکې له منځه تللې وي، او که چیرې تراوسه ژوندي هم وي ښایې ترکښینولو وروسته ښه وده ونکړي.*

## له بله پلوه د بڼوالی سکتور ښه فرصتونه هم وړاندې کوي :

افغانستان د څو کلنی بڼوالی سکتور د پرمختګ لپاره ډیر ښه فرصتونه لري ، کرنیز حاصلات له لوړو ارزښتونو څخه برخمن دي که چیرې په ښه ډول تر مدیریت لاندې راشي له هغو څخه لاسته راغلې ګټه به له هغې ګټې څخه ډیره زیاته وي چې له ناروا حاصلاتو څخه لاسته راځي. برسیره پردې دهیواد اقلیمي شرایط دمیوؤ د تولید لپاره ډیر مناسب دي چې یوځانګړي سیالی کوونکی امتیاز او برلاسی دی. دافغانستان د بڼوالی زیاتره محصولات بهرته صادریدلای شی . چې دهغولپاره ښه مارکیټونه موجود دي ، انګور ، ممیز ، بادام ، پسته ، زردالو، او انار مهم حاصلات ګڼل کیږي . هیله کیږي چې خصوصي سکتور د مناسب ترویجي ملاتړ په ترلاسه کولو سره دبڼوالی د صنعت نوي کیدل رهبري کړي د بڼوالی د سکتور د بریالي پرمختګ مهم ټکی د میوه لرونکو ونو د نوی بوزغلی روزنې د صنعت شتوالی دی.

## د میوه لرونکو ونو د بوزغلی روزنې د صنعت د پرمختګ د اوږ دی مودې هدفونه :

هغه داوږدې مودې موخې چې افغانستان کې د میوه لرونکو ونو د بوزغلی دروزنې د صنعت لپاره ځانګړې کړې شوې دي ، د نوم لرونکو پاکو او روغو میوه لرونکو ونو د پوره اندازې برابرول دي ترڅو چې وکولای شي چې د نوو بڼونو د کښینولو او عوض کولو غوښتنه پوره کړي. د تخنیکي او مدیریتي وړتیاو ښه کول او همدارنګه د کرنیزو وسایلو او لوازمو ته د لاس رسي ښه والی د بوزغلی دروزنې د صنعت د پرمختګ لپاره لازم دي ، په ټولنیزه توګه د بڼوالی سکتور باید دنوی بازارونو د کیفیت د شرایطو په ځانګړي ډول صادراتي بازارونوسره ځان برابر کړي پرته له دې شکه څخه پرته چه د میوه لرونکو ونو د بوزغلی روزنې د صنعت په اقتصادي ځنځیر کې مهمه کړی ګڼل کیږي.

## ۲. په افغانستان کې د میوه لرونکو ونو د بوزغلیو د صنعت  د پرمختګ تګلاره:

په افغانستان کې د میوه لرونکو ونو د بوزغلیو د صنعت د پرمختګ تګ لاره کې درې په خپل مینځ کې سره تړاؤ لرونکي مداخله کوونکي  شامل دي.

- د بوزغلی لرونکوتنظیمول:
  دمیوه لرونکو ونو د بوزغلیو دېولنو جوړول او ثبت کول.
- د کرل کیدونکو موادو معیاري کول او تصدیقول:
  د تفتیش او تصدیق ورکولو د سیستم تطبیقول
- دانساني منابعو پرمختګ: د اړوندو تخنیکي او تنظیموونکومهارتونو او  دهغو اړتیاو دپوره کولو په برخه کې دغړیود وړتیاو لوړول چې د تصدیق ورکولو د راتلونکي پروسې پواسطه تطبیقیږي .




*لومړي شکل – د بوزغلیو د صنعت  د  پرمختګ تګ لاره دافغانستان د میوه لرونکو ونو د بوزغلیو دصنعت د پرمختګ لپاره درې په خپل مینځ کې سره د اړیکو لرونکو مداخله کوونکو شاملول .*



### یو ځایي کار د سکټور د اصلاح او عصري کولو یوه لاره ده

دمیوه لرونکو ونو اصلاح چې په یوه هیواد کې کښینول کیږي د یوه بوزغلی لرونکو پواسطه نه شي ترسره کیدای.
دبنوالۍ د صنعت اصلاح او عصري کول د ارزښت د ځنځیر د مختلفو سطحو بشپړتیا او د داخل کړای شویو موضوعاتو انسجام ته اړتیا لري.
تجربې ښودلې ده، چې د تولیدونکو ټولنه کولی شي ډیرې ګټې وړاندې کړي، ټولنی د ترویج خدمات ډیر اغیزمن کوي، هغوئ د مقرراتو او معیارونو په تطبیق کې مرسته کوي او هغوئ په قوي توګه دافقي زده کړې او وړتیاو دلوړولو په برخه کې د تولیدونکو په سطحه (د بزګر ښخه دبزګر زده کړه) کې مرسته کوي، هغوئ همدارنګه تولیدونکو ته اجازه ورکوي چې په یوځایی غړخبرې وکړي د دولتي تأ سساتو سره د سروکار لرلو په وخت کې خپل اغیزمنتوب زیات کړي د مثال په توګه: د صنعت د معیارونو په تطبیق کې یا د بنیادي تاسیساتو په برخه کې د پانګې اچونې لپاره د منابعو د تخصص په ورکولو کې د لومړیتوب د حق تثبیت، هغه بزګران چې  په ګروپونو کې یوځای شوي د تکنالوژۍ، لوړه بیه منابعو او د بازار موندنې معلومات په ښه توګه ترلاسه کوي.

> *په افغانستان کې د بنوالۍ د سکټور د ودې لپاره د یو عصري بوزغلی صنعت ته اړتیا ده*

## ۳. په افغانستان کې د بڼوالۍ دټولنود جوړښت حالت:

### ملي او محلي ټولنی

دافغانستان دمیوه لرونکو ونو د بوزغلیو صنعت له ۲۵۰۰ څخه په ډیرو کوچنیو سطحو د بوزغلیو په روزنکو باندې وېشل شوي دي. دا لوی شمېر په نوموړي سکتور کې د ابتکار په تطبیق او د بوزغلی لرونکو په روزنه کې ستونزی مینځ ته راوړي ، ددې په ځواب کې بوزغلی لرونکو په ټول افغانستان کې دیو ځای کار کولو پروسه پیل کړېده او د محلي بوزغلی لرونکو ټولنی یې جوړې کړې دي. نوموړی ټولنی لومړی په ولسوالیوکې د بوزغلیو لرونکو د ګڼ شمېر سره تشکیل شوي دي. اوس په دې ټولنو کې د میوو او مغزبابو د بوزغلیو د روزنکو غړیتوب شامل دی. خو هیله کېږي چې د خصوصي سکتور د ځنګلي او زینتي ونو د بوزغلیو کرونکي به هم غړیتوب ترلاسه کوي . دا محلي ټولنی (د ۲۰۰۱ په مارچ کې ټولې ۲۲ ټولنی دي) په ملي ټولنو باندې بدلې شوي دي چې دافغان بوزغلی روزونکو د ملی سازمان(ابلمس) په نامه یادېږي.
د ابلمس به په افغانستان د بڼوالۍ د پرمختیا دملی اداره ANHDO غړیتوب ترلاسه کړی دی




*دوهم شکل : دافغانستان د بوزغلی روزنکو د ملی سازما ن نقشه(پلان)*

### دافغانستان دبوزغلی روزنکو دملی سازمان (ابلمس) رول په لاندی ډول دی:

- دبوزغلی روزنکو نماینده ګي کوي.
- د میوؤ د تولید په صنعت کې دخصوصي او دولتي دواړو سکتورونو (دولت او مؤسسه پانګی را جلبوی
- د بوزغلیو د محصولاتو لپاره د تصدیق ورکولو د سستم په کار اچولوکې مرستې.
- د تکنالوژۍ او منابعو په ترلاسه کولو کې د اسانتیاؤ منځته راوړل. (د مثال په توګه د مورنیو بوټو پاکول، د کوچني تکثیر لابراتوار– دمرکزی زیرمی بوزغلی، هغه ورایټي چې اجازه یې ترلاسه کړې وي)

- د بوزغلی د محصولاتو د مارکيټ اصلاح کول (چې په هغو کې د محصولاتولوړونه ، د بازارموندنی معلومات د تولید پلانول، د ارزښت د ځنځیر پرمختګ اوداسې نور)
- د دولت په پالسیو باندې اغیزه کول د مثال په ډول ، کورنی او بهرنی نامناسبې سیالی د دروغتیا ساتنی د کنترول څخه پرته د ونو واردول ، په ټیټو بیو سره د ونو پلورل او داسې نور)

**په محلي سطحه د بوزغلی روزنکو د محلي ټولنو رول په لاندې ډول دي.**

- په مارکيټ کې د اړتیا سره سم د تولید دلومړیتوب حق معلومول.
- د ګروپي روزنو د تنظيم کولو د اداري او د غړیو د تخنیکي مهارت اصلاح کول.
- د بوزغلي د تصدیق د سیستم تطبیق.
- د مورنی ونو د موادو دتولید شریکول.
- د عملیاتي سازماني روزنیزو اسانتیاؤ شریکول د مثال په توګه، د پیژنګلوی پانی وهلو ماشین ، د دفتر او غونډو خونې.
- بازار موندنې ته دلاس رسې د معلوماتو اصلاح.
- ټولنی کولای شي چې یو ځای کاروکړي ترڅو د خپلو غړیو او همدارنګه بڼ لرونکو لپاره مسلکي خدمات برابر کړي هغه مسلکي خدمات چې ټولنی یې برابرولی شي، په لاندې ډول دي:
  - *د پیوندولو اوښاخه بري خدمتونه.*
  - دبڼ په ډیزائن او د ایښودلو په برخه کې لارښوونی.
  - د آفتو او ناروغیو، دکتنی، ارزونی او د کنټرول خدمتونه، او د آفت د هر اړخیزه کنټرول لارښوونه کول

**د بنوالی د پراختیا پروژی رول**

ددې پروژې عمده رول د بوزغلیو د صنعت په پرمختګ کې دادی چې دټولنو د پرمختګ لارښوونه وکړي او هغه منسجم کړي.

د بنوالی د پرمختیایی پروژی داروپایی کمیسون په مالي مرسته ، د ځینو غیر دولتي مؤسساتو په مرسته د بوزغلی لرونکو د لومړنیو ټولنو د جوړولولپاره لارښووني برابري کړي دي. همدارنګه د پروژی د افغانستان د بوزغلیو روزونکو د ملی سازمان په جوړولو کې هم د ارزښت وړ رول لوبولی دی.

دباغداری پرمختیایی پروژه د ۲۰۰۸ کال تر پایه پوري په هیواد کې د ټولو مهمو میوو او مغزبابو د ونو د ورایټیو(ډولونه) راټولول بشپړ کړیدي . کله چې د را ټول شوو ورایټیو په باره کې پوره معلومات راټول شي نو دباغداری پرمختیایی پروژه به دورایټیو د سپارښتني سیستم جوړکړي چې بڼ لرونکو او صادرونکو ته به د ورایټیو د کیفیت په باره کې سپارښتني برابري کړی شي.

د آغاخان ټولنی د باغداری دپرمختیایی پروژی په ملګرتیا د ملی راټولوشوورایټیو څخه د ځینو ورایټیو لپاره د وایرس د ازمویني پروګرام پیل کړي شوی دی. دا به د سپارښت کړای شوو ورایټیو لپاره له وایرس څخه د پاکولود پروګرام پواسطه تعقیب شي. د مورنیو ونو بوزغلیوته د پاکومورنیو زیرمو برابرول په افغانستان کې د میوه لرونکو ونو د بوزغلیو د نوی صنعت بنسټ تشلیکوي.

## د بوزغلي لرونکو ټولنه څرنګه رامینځ ته کولای شي

د دوهمي برخي له لوستلو څخه وروسته به راشي:
- دقانوني سازمانونو په مختلفو ډولونو باندي پو هیدل .
- د روزنکو د ټولنو د جوړولو سره د مرستي کولو په منظور په ضروري لومړنیو پراونو باندي پوهیدل.
- د توسعي په پروسه کي د آسانوونکي په رول پوهیدل

### ۱. دغړیو د غوښتني سره سم د ټولنی د مناسب ډول جوړول

پـه افغانسـتان کـي د سـازمانونو مختلـف ډولونـه موجـود دي ، چـي پـه موخـو ، قـانوني محـدوديتواو مقرراتو کي سره جلا دي ، چي په لاندي جدول کی په لنډ ډول روښانه شوي دي.

| ټولنیزسازمانونه ( ټولنی ) | دپانګي اچوني سازمانونه | غیر دولتي سازمانونه |
|---|---|---|
| • دغیر ګټه کوونکی دریځ ټاکنه ده چي د کلتوري ټولنیزو او مسلکي خدمتونو او فعالیتونو له لاري اجراکیږي<br>• د بهرنیو سازمانونو د غړیتوب دهغو سره د یو ځای کیدلو یا له هغوسره د اړیکو د ټینګولو څخه مخنیوی یوازي د ملی سازمانونو په ملاتړاو د پروګرامونو تطبیقول<br>• دشته منیو محدودیت یوازي د معقولو شتمنیو سره<br>• کولا شی چه محدودي منابع لکه حق العضویت او کورني نهادونو څخه تر لاسه کړي. غیرسوداګریزی کړنی .<br>د عاید څخه د مالي معافیت<br>د رپورټ ور کولو مکلفیت نلري.<br>د عدلیي په وزارت کي ثبت کیدل. | • د زیرموشرکتونه، ملګرتیا یا شراکت اود یو کاروبار شرکتونه د ګټي په منظور دفعالیتونو د اجراکولو د حق درلودل<br>• کولی شي چه په تولو اقتصادي سکتوروونو کي پانګه واچوي .<br>• یوځای او ځانګړي شرکتونه د ګټی وټی د کړنو د ترسره کولو حق<br>• کولای شي په ټولو سوداګریز سکتورونو یا برخو کي پانګه اچونه وکړي .<br>• په افغانستان کي د ځینو صادراتي اقلامو معافیت<br>• کولای شي چه ګټي و ویشي<br>• د ګټو مالیات<br>• د شرکت د انحلال یا له مینځه تللو پر محال شتمني په ونډه لرونکو پوري اړه لري<br>• د سوداګری په وزارت(ایسا) کي ثبت<br>**یادونه:** د کوپراتیفونو په هغو مؤسسو کي شامل دي چه دکو پرا تیفونو په قانون کي د اوسني قانون څخه د پراخه کاري ساحي په پام کي نیول شوي وي او باید د سوداګریزو بوزغلي لرونکو د ټولنو لپاره په راتلونکی کي په پام کي و نیول شي . | • نه ګټه کوونکی تمایل دکلتوری ټولنیزو او حرفوي‌خدمتونوله‌لاري لاس ته راځي<br>• کیدای شي په سوداګریزه‌کړنو کي د خپلو نه ګټه کوونکی مقصدونو کي کړون ولري<br>• کولای شي چه له مقصدونو څخه مالي ملا تړ د کورنیو او بحرنیو منابعو څخه (بلا عوضي مرستي اعاني او داسي نور)<br>• د رپورټ د ورکولو مکلفیت<br>• د غړیو تر مینځ ګټي نشي ویشل کیدای<br>د ګټی مالیات نه لري<br>• د غیر دولتي مؤسسوشتمني د انحلال پر محال د اداره کوونکي وزارت پوري اړه‌پیدا کوي<br>• د اقتصاد یا ګټی وټی په وزارت کي ثبتول |

غیر دولتي مؤسسي د یو قانوني اوحقوقي نها دونو یو ډول دی چه کولای شي هغه پرمختیایي کړني چې دیوې سوداګریزی حرفوي مؤسسی له خوا تر سره کیږي، پرمخ بوځی . همدارنګه دا ډول مؤسسی د ګمرکي محصول څخه د خلاصولو زیات امکانات لري

## ۲ . د ټولنی د غړیو پیژندنه

د ټولنی ممکنه غړي باید وپیژندل شي، اداري غړي یوشان نظرونه او مقصدونه لري . په اوسني وخت کی ځینی پروژې ممکن د کرنیزو ټولنو دجوړولو لپاره ځیني امتیازونه ور کړي . په داسي حال د داسي مؤسسو جوړول چې ګډی موخی و لري، نه د شتو د راټولو لپاره زمینه برابرکړي.
د ممکنه غړیو په باب باید ځیني اصول په پام کي و نیول شي.
دغړیو د هغو کړنو په هکله چې باید پرمختیا و مومي، ګډ نظر لري.
ټولنی د پر مختللو او مترقي بوزغلی لرونکو له خوا جوړیږي. دغه بوزغلی لرونکي دخپلو نظریاتو د څرګندولو لپاره ځای پیدا کوي او د هغوې ودی ته چټکتیا ور بخښي.

## ۳. د اسانتیاود برابرولو ونډه

د ترویج د کار کوونکو د زده کړی په برخو کي داسانتیاو برابرونکي دوه اړخیزه ونډه لري . که وغواړو تخنیکي معلومات د بزګرانو په واک کي ور کړو په عین حال کي که وغواړو دبزګرو له تجربو څخه زده کړه وکړو . تر څو د تخنیک د تمرین طریقو ته چې پراختیا ور شوی ده په محلي ساحو کي باید تطبیق کړای شي.
دیوی ټولنی د ټینګښت لپاره زیاتو مرستو ته اړتیا ده. د دغو مر ستو زیاته برخه باید د کرنې د وزارت د محلي ترویجي کارکوونکو او غیر دولتي مؤسسو لخوا برابره شي. دهغو کارکوونکو لپاره چې محلي آسانتیاوي برابروي، په لاندې مواردو کی شاید ګټور وي:

- په هغي ساحي باندی تمرکز چې په هغي کي زیات شمیر بوزغلی لرونکي تمر کز ولري .
- کار له یوه ګروپ څخه پیل کیږی او وروسته پراختیا مومي، د غړیو د ملاحظي په اساس کیدای شي په یوې سیمه کي له یوه څخه زیاتی ټولنی شتون ولري.
- دسیمی درسم او رواج ښه پیژندنه ډیر ارزښت لري اکثره محلي خلک ځانګړی ټولنی لري چې هغوئ باید و پیژندل شي هغوې دیو کامیاب تولیدونکی ټولنی هسته جوړوي.



## ۴.د بوزغلی لرونکو دټولنی د ملاتړ رواجلولوخدمتونه :

هغه ترویجي خدمتونه چې داسانتیاو برابرونکی یې برابرولای شي، په لاندې ډول دي:

- د بوزغلی لرونکو لپاره د تخنیک او زده کړی زمیني ، چې دبنوالی د پراختیا له تخنیک او زده کړی مرکزونو سره د اړیکی اړتیاولري .
- په خپل ځان متکي ټولنو دجوړولو دمدیریتي او اداري وړتیا لوړول.
- دبوزغلی د محصولاتو د تصدیق د سیستم د رامینځ ته کولو په اړوند مرستي، د بوزغلی د معیارنو دپراختیا او تطبیق څخه ملا تړ.
- دمیوه لرونکو ونو دبازار موندني د زده کړی ملا تړ.
- د لاندې فعالیتونو لپاره د خصوصي او عامه ټولنو څخه د مرستو را ټولول:
- تخنیکي زده کړي: په کر نیزو نندارتونوکي ګډون ، ساحوي زده کړی او داسي نور.

- لازمو معلوماتوته لاس رسي لكه: د افغانستان د بنوالی د پراختیاي پروژی له خوا دبازار په هكله معلومات (دبازار تمایل او بیی ، بازار كي موجود فرصتونه، د مقرراتو او حقوقي مسایلو په اړه معلومات ، تخنيكي ابتكارات ، كرنيز معلومات، هوا پيژندنه او داسي نور).





دریم شکل ( کشمیري کریم ) ٤ ( لورا امبورکیا) بوزغلی لرونکو ته باید د زده کړي چاپیریال رامنځ ته شي ، تر څو د تخنیکي تولیداتو موخه تر لاسه شي .

الکترونیکی لاربنوونه: كه چیری كمپیوتر او پروجیكتور موجود وي كیدای شي بوزغلی لرونكو ته لاندي پرزنټیشن وړاندي شي . ( لاندی كلیک كړي او له ضمیموي سي دي سره خپل دلاربنووني كتاب پرانيزي.

لومړی شمیره پرزنتیشن: دبوزغلی لرونکو د تولنی

## د ټولنی غونډی

د دی برخی په لوستلو سره به تاسو ته د بوزغلی لرونکو دټولنی د جوړولو یا رامینځ ته کولو دناستو او کړنو په هکله لارښوونی وړاندی شي. په یاد ولری چی ستاسی ونډه ددغه پروسی ساده او آسانه کول دي. موخه داده چی بوزغلی لرونکي وکولای شي له ځان سره مرسته وکړي.
ددریمی برخی له مطالعی څخه وروسته به تاسو وکولای شئ چه دلاندنیو مواردو په هکله معلومات تر لاسه کړي:

بعد از مطالعه قسمت ۳، خواهید توانست دوره های آموزشی را در مورد موضوعات ذیل تدارک نمایید:

- دیوی ټولنی مینځ ته راوړلو لپاره دلومړنیو ناستو د آسانولوطریقه
- په افغانستان کښی د ټولنو د رامینځ ته کولو حقوقی شرایط
- دټولنو دکاري پلان دجوړولو طریقه





عکس: کیسټوکی / ای. وزنون

## د ټولنو د غونډو(ناستو) آسانول

لومړی
ناستی(غونډی)

### دپیل ټکی: دټولنو د را منځ ته کولو موخه او یوځایی کار

- موخه

ددغی ناستی څخه موخه د بوزغلی لرونکو سره دټولنی د مفهوم معلومولوکی مرسته کول دی او په ټولنی کښی دکډ ون گټی دی

- *دکار کولو طریقی یت طرز العملونه:*

۱. دټولنی د رامینځ ته کولو موضوع باید مخکی له مخکی دکرنی د وزارت له مسؤلینو سره طرحه شی.
۲ .غونډو ته بلنه کیدای شی په لومړی سرکی په یو خاص جغرافیاٻی ساحی کښی محدوده وی
۳. بوزغلی لرونکی باید له یوه بل سره مرستی ته وهڅول شی.

له گډون والو سره باید لاندی موضوع گانی تر خبرواترو لاندی ونیول شی:

**دبوزغلی لرونکو ټولنی څه ته وایی ؟**

- ټولنی د هغه یوشان حرفوی سکتورله گډون والو (دمیوه لرونکو ونو بوزغلی لرونکی، دځنګلی او زینتی ونو خاوندان هم کولای شی چه گډون وکړی) څخه ده چه په هغه کی هغه اشخاص شامل وي چه یوه موخه اوهدف و لری له ټولنی څخه عبارت دی.
- ټولنی عبارت دی له:
  - یوه نه کټه کوونکی مؤسسه
  - د سیاسی او مذهبی تړاوڅخه پرته
  - پرته د سوداگریز یا انتفاهی فعالیت څخه

- د ټولنی اصول عبارت دی له:
  - حرفويي والی (مسلکی توب): کولای شی له بڼ لرونکو او بزګرانو څخه استازیتوب وکړی.
  - عمومیت: هر هغه څوک یا دټولنی لرونکو افراد یا موسسی کولای شی چه دټولنی ګډون وال وی چه د ټولنی د ګډون شرایط پوره کړي.
  - استازیتوب: د بوزغلیودروزونکو په باره کی بایدوویل شي چه د بوزغلیو هرروزنکی باید خپله نماینده ګي وکړي چی خپله رایه او نظر بیان کړي .
  - خپلواکي: ټولنه خپل پرمختیایی منزل، کړنلاره، موخی او د خپلو منابعو برابرول پخپله تعینوي.
  - نه سمون: (دکار او سوداګریزه فعالیت تر منځ) دبزګرانو ټولنی نشی کولای دټولنی له غړیو سره سوداګریزه چاری تر سره کړي.

- **دکرنیزو ټولنو د ندی عبارت دي له:**
  - مشاورت: عبارت دټولنی د اعضاو تر مینځ داړیکو دهغو عامه ګټو، اشیاو او د اسی نورو دشریکولو په هکله پریکړی کول چه دټولنی پرپروګرامونو باندی اثرکوي .همدارنګه ددولت او غړو ترمینځ دپالیسی په جوړلو، دټولنی د فعالیتو او داسی نورو کی د اړیکی درلودلو څخه عبارت دی.
  - معلومات: په مختلفو معلوماتي سرچینو او د معلوماتو په ډولونوباندی اسانی لاس رسی ته ویل کیږی: لکه تکنالوژی، اقلیم پیژندنه، دکرنیز بازار پالیسی او داسی نور.
  - ملاتړ: دا فعالیت دبوزغلی لرونکو د غړیو سره د هغوی د انفرادي او ټولنیزو اړتیاو او دهغوی د مسلکی کولو په لاره کی دټولنی د مرستی کولوڅخه عبارت دي.

### *په کرنیزو ټولنو کښی د ګډون ګټی*

په کرنیزو ټولنو کی ګډون:

- د غړو سره د تکنالوژی او لوړوبیو منابعو ته د لاس رسی په هکله مرسته کول
- د هر غړی تخنیکي پوهی ته ښه والی ببنی: هغوی به د بوزغلي د موسمي جنتری فعالیت پر اساس پوهه تر لاسه کړي.
- د غوښتنی د پوره کولو په خاطرد تولید پلان ته ښه والی ببني: غړی باید د بازاراود کارو بارد فرصتونو په هکله کافی معلوماتو ته لاس رسی ولري.
- د یوه ښه تصدیق شوي سیستم د پلی کولو په پایله کښی د بوزغلی محصولاتو ته ښه والی وربښی.
- دخصوصی سکتوردغښتلي کولو سره مرسته کوي. چه دا به د خصوصی بوزغلی لرونکوسره دهغوی په مؤثر او ګټور کار کی مرسته وکړي او ښه ګټه به تر لاسه کړي

### *دیوه غړی د ندي*

- ګډون: هرغړی کولای شی چی خپل نظر ولری او تصمیم ونیسی
- مسؤلیت: هر غړی دخپلو شریک کړی شوو مواد و او معلوماتو مسؤل دی.
- ښی اړیکی: هر غړی باید خپل ستراتیژیک معلومات له نورو سره شریک کړي.
- سالمه سیالي: په مشخصو کرنیزو کړنلارو توافق؛ او ددی موافقی له مخی دتولید برابرول (جوړول)

### **څرنګه کولای شي چه غړی په ګډه لاس ته راوړنی ولري؟**

- سازماندهی فعالیت های آموزشی
- تطبیق سیستم تصدیق
- اصلاح کوشش های بازایابی (کوشش در اصطلاح بازاریابی)
- سازمان دهی تقسیم کار در انجمن: ویژگی اعضا، به گونه مثال چون یک قوریه دار پایه مادری
- فراهم آوری خدمات تخصصی به اشخاص ثالث
- کسب یا اصلاح تکنالوژی برای همه اعضای انجمن

دویمه غونډه

## دبوزغلی لرونکو دټولنی حقوقی چوکات

- ***موخی یا هدفونه***

ددی غونډی په دوران کښی

- ○ بوزغلی لرونکی باید په افغانستان کښی په حقوقی شرایطو پوه شی
- ○ مشران باید دغړو ځخه وټاکل شي

- **کړنلارې**

**۱. دټولنو په هکله لاندی حقوقی شرایط باید روښانه شی:**

**۱,۱ لازم اسناد:**

❑ **غوښتنلیک:** په دغی ناستی کښی باید روښانه شی چی په غوښتن لیک کښی کوم معلومات میشته شوی دي په ځلورمه ضمیمه کښی دنومړی فورمی بیلگه موجوده ده

❑ **قانون یا مقررات:** د غه سند دټولنی لخوا برابریږي چه په هغی کی دعامه فعالیتونو تنظیم منل شوی. مقررات د ټولنی په رسمي قانون بدلیږي. چه بیلگه یې په دویمه ضمیمه کښی موجوده ده. همدا رنگه دافغانستان دبوزغلی لرونکو دملی ټولنی قانون په لومړی ضمیمه کښی موجوددی.

**۲,۱ دټولني دنوم او نشان انتخاب:**

۳,۱ دټولنی دتشکیلاتی جوړښت را منځ ته کول

❑ عمومی مجموعه: دټولو غړیو په گډون

❑ مدیره هیأت: پنځه تنه

- رئیس
- معاون
- اداری کارکوونکی
- ۲غړی دمالیی د مجلس ځخه

❑ اجرءییوي هئیت: ۳ تنه

- خزانه دار
- گدام دار
- کاتب



**شکل ٤:** آموزش در مورد شرایط حقوقی انجمن ها – جلسه مؤسسه ملی قوریه داران افغانستان، ۱۳۸۷ *(کریم کشمیری)*

**۱,٤ د *سوداگری* په وزارت کښی د ټولنی ثبت**

۲. په ټولنه کی د بوزغلی روزنکی ثبت کول. په ټولنه کی دهرغړی ځخه لاندی ارقام یا معلومات راټولیږي:

**۲,۱ بشپړه پته**

***۲,۲ د تولید په هکله معلومات***

- د بوزغلي مساحت په جریب سره
- په جریبونو کې دمیوه لرونکو ونو دتولید اندازه
- په هر جریب کښې دونو شمیر
- اوبوته لاس رسی
- دمیوه لرونکو ونوغوښتنه، ډول، شمیره او داسی نور
- بازار کی فرصتونه
- دتولید شوی ډولونه
- دپیوند شویو ونو شمیره
- دمحصول فعالیت: حاصلات، آفات او معمولی ناروغی اوداسی نور
- پوروونو ته لاس رسی

۲-۳ دمشرانو ټاکل: ددغی ناستی په ترڅ کښی تاسو له غړیو غواړئ چی هغه کسان چی په ټولنۍکی مسؤلیتونه ولری وټاکی

**جلسه سوم**

## درسمی ټولنی مینځ ته راوړل

- موخه:

په دریمی غونډی کښی فرض کړو چه دلاس ته راوړنو پر مختګ رضایت بښونکی دی هرډله باید د خپل سازمانی هویت: نوم، نښآن او تشکیلاتی چارټ منظم کړي. ډله باید په خپلو بنیادی سازمانی اصولو چی دټولنی کړنی اداره کړی، هوکړه وکړی.



**شکل ۵:** *انتخاب مقامات در جلسه افتتاحیه ننگرهار، ۱۳۸۷ (ستیون رایت)*

- کړنلاره

۱. پوه او استعداد لرونکو غړیوته د اساسنامی قانون د مسودی مرور.
۲. دټولنی لپاره د نوم او نښآن ټاکل.
۳. دټولنی دکمیټی دهغوغړیو او د دفتري آمرینو ټاکل چی نومونه ئې دټولنی په ثبتولو کښی لیکل کیږي.
۴. د دفتري مشرانو د دندو ټاکل او روښانه کول.
۵. دټولنی دثبت په شرایطو کتنه

دټولنی دثبتولو کنټرول:

- ☐ دثبت دفتر: دسوداګری وزارت.
- ☐ دغوښتنلیک فورم.
- ☐ دمدیره هیآت پیژندنه
- ☐ دفرعی قوانینو او اساسنامی پراختیا
- ☐ په نوم او نښان باندی هوکړه

راتلونکی غونډې

## دټولنی کاری پلان اووروسته د بوزغلی لرونکو سره مرسته

د بوزغلي روزنکو د ټولنی د ثبت کید و څخه سم لاسي وروسته بیا هم پخپله دکارونو پر مخ بیولواو خپلو غړوته دخدماتودبرابولولپاره مرستی ته اړتیا لري

- کړنلاره

۱. دثبتولو لپاره د دوامداره مرستی برابرول

۲. دټولنی دحقوقی مشاور له مشوری وروسته دټولنی دقانون دوروستی مسودی برابرول.

۳. یو کاری پلان او اضافی فعالیتونه معرفي کول

کاری پلان باید د ټولنی دمامورینو له خوا برابر او د بحث او منظوری لپاره دټولنی د غړیو په واک کښی ورکړل شی

کاری پلان باید دلاندی موارد و درلودونکی وی:

۳-۱ :ځانګړي ګډ کار او برنامې چی د ټولنی له خوا یی نوښت وشي. بیلګی یی دلاندی مواردو څخه عبارت دی:

- دنیله بوټوتولید
- د مورنیو نباتاتو تولید
- بازار موندنه او حوصله ډیرونه
- دتولید پلانګزاري او هم غړی
- اخیستونکو ته دخدمتونو وده او پراختیا لکه:
  - دپیوند ولو خدمتونه
  - دبڼ طرح او نقشه
  - دبڼا خه بري پریکوونی خدمتونه
  - دبڼ دتنظیمولو خدمتونه او دناروغیو هر اړخیزه مخنیوي
  - په نباتاتو کښی دګرده افشانی خدمتونه



**شکل ۶:** *قوریه داران ورایتی ها را در مرکز انکشاف باغداری کابل انتخاب میکنند، ۱۳۸۸ (ادی ورنون)*

دبوزغلی لرونکو د ټولنی حقوقی جوړښت د نه ګټه کوونکی مؤسسی په ډول اخیستونکو ته دخدمتونو دوړاندی کولو لپاره مناسبه نه ده . دا خدمتونه کیدای شی دانفرادی اشخاصو له خوا وړاندی شي او یا علاقه لرونکی اشخاص کولای شی دهغو خدمتونو دوړاندی کولو لپاره پر یو کوپراتیف په ګډه غور و کړي

### ۳,۲ د غړیو دکارۍ ورتیا لوړول

په کار ی پلان باندی دپوهیدلو لپاره باید بوزغلي لرونکو ته زده کړه ورکړي شي.
په لاندې چارټ کښې دزده کړي ( درسونو ) هغه ګنې چې په دې لاربنود کښې ځاي کړاي شوی ده، ښودل شوي دي.

| پوهنیز ه برخه | پوهنیزه درسونه( برخه) |
|---|---|
| **۱مجموعه**<br>**دمیوه لرونکو ونو دبوزغلیو صنعت** | **د اصلاح شوو معیاري بوزغلیو پراختیا او تطبیق** |
| **لومړی لاربښود**<br>دمیوه لرونکوو نو ټولنې | • د اصلاح شوو بوزغلیو لرونکو تنظیم، د افغانستان د بوزغلي لرونکو ملي ټولنه، دبوزغلي لرونکو ټولنې<br>• دمیوه لرونکو ونو اداره او بازار موندنه. د مورنیو ونو د بوزغلیو دپراختیا لپاره د بزغلیو په برخه کې تخصص<br>• دافغانستان د بوزغلیو لرونکو د ملی سازمان لپاره د مورنیو ونو د بوزغلیو د تصدیق طرح |
| **دوهم لاربښود**<br>دمورنی ونو بوزغلي | • دبوزغلیو د تولید د تخنیک په هکله غړو ته دزده کړې ورکړه |
| **دریم لاربنود**<br>د میوه نیوونکو ونو د بوزغلی تولید | • دافغانستان د بوزغلیو لرونکو د ملی سازمان لپاره د تولیدي بوزغلیو د تصدیق طرح |
| **دویمه مجموعه**<br>**د بڼ د تنظیم(اداری) لاربښود** | **داصلا شوو بڼونو اداره (تنظیم)**<br>• د بڼ طرح (پلان) او کښینول<br>• د میوه نیوونکو ونو تربیه او ښاخه بري<br>• ناروغیو او آفتونو پیژندل، اداره او مخنیوي<br>• د ګرده آفشانی (القاح) لاربښوونې |

### ۳,۳ د تصدیق طرحه

د بوزغلي لرونکو ټولنې د افغانستان د بوزغلي لرونکو په ملی سازمان کې په عادی ډول دګډون مستحق دي.په دې صورت کې باید د بوزغلي لرونکو ټولنې دونو د تولید لپاره دافغانستان دبوزغلي لرونکو د ملی ټولنې تصدیق شوي مواد د تولید لپاره له ځانه سره ولري. (پنځم عکس ته مراجعه وکړئ) په دې ټوله پروسه کې ستاسو مرسته ډيره اساسي او اړینه ده.
د تصدیق سیستم په لاندی اصولو ولاړدی (دافغانستان دبوزغلي لرونکود ملی سازمان دمیوه لرونکوونو د تصدیق د طرحې پروسه په دریمه ضمیمه کښې په مکمل ډول وړاندی شوی ده)

- دافغانستان میوه لرونکوونو د بوزغلي لرونکو د ملی ټولنې د تصدیق طرحی (طرحه) موخه په سودګریز ډول میوه تولیدونکولپاره د تصدیق شوو او د نوعې (ډول یا نسل) د نمونې سره سم دمیوه لرونکو ونو د نیالګیو برابرول دي چی د هغوی صحت او قوت دافغانستان دبوزغلي لرونکو د ملی ټولنې له خوا تصدیق شوی.

- یو تولیدی بوزغلي چې غواړي تصدیق شوی میوه لرونکی نیالګی تولید کړی باید له هغه پیوندی لرګیوڅخه ګټه واخلی چې دیو ثبت شوي مورنی ونی د بوزغلی له خوا تصدیق شوی وی دا باید یوه سوداګریز بوزغلي وي چې دمیوه لرونکو ونو دښه کفیت لرونکي تکثیری موادو: د پیوندي موادو، قلمو او پیوند په هکله ښه تخصص لرې.

- دمورنی ونو تکثیري مواد، پیوند او قلمی باید یو رسمي پیژندګلوی پاڼه اود اعتماد وړنور اسناد د موادو او د مورنیو ونو دبوزغلي په هکله د ضروري معلوماتو سره ولري د ا د

اعتماد سند کید ای شي چی یوسوداگریز بیجک یا د بسته بندئ او تحویلی سند وي.

- هغه بوټي چه دتصديق شوو مورنيو ونو د موادو څخه توليديږي بايد دتصديق د طرحی د مشخصو معيارونو لاندی (مطابق) چی (دويم لاربنود: دمورنی ونو د بوزغلي لاربنود او دريم لادبنود: دميوه لرونکو ونو دتوليد په لاربنود کی واضح شوي دي) وروزل شی.
- دودی د فصل په ترڅ کښی، نيالګی (فصل) لړ ترلږه يو ځل پلټل کيږي. دا پلټنی به په نورمال ډول دلابراتوارونو د اسانتياو د نه موجوديت له کبله دسترګو په واسطه کتل(معاينه) کيږي
- دپلټنی هدايات يا لاربوونی بايد په دقيق ډول څرنګه چی توضيح شوی دی، رعايت شی: تصديقونه، علايم، ليبلونه او د مطالعی لازم اسناد بايد ولري.
- ټول اړونده معلومات بايد ثبت او وساتل شی
- که چيری په يو يا ډيرو کتنوکی وموندل شی يا څرګند شی چی دتصديق لپاره وارد شوی مواد ټول لازم شرايط پوره کوي نو يو شميره لرونکی تصديق به صادريږي او دغه تصديق نامه به داعتبار له يوی ځانګړی مو دی څخه برخه مند وی .




*پنځم شکل: د میوه لرونکو ونو د بوزغلی د دتصدیق د طراحی پړاو ونه*

## دبازار موندنی اوادارى (مدیریت) لاربنود

برابرونکی ګریک کولم

دغه برخه دافغانستان د بوزغلی لرونکو د ملی ټولنې یا سازمان او د هغې دغړیو دګټې اخیستنې لپاره برابره شویده. دا لاربنود د دواړو موخو "دغرو لنډ مهاله ګټې او د افغانستان دبوزغلی لرونکو د ملی سازمان اوږد محاله" پراختیا لپاره دي. اروپایی کمیسون، چې دافغانستان دبنوالی پراختیایی پروژی لپاره مرستې کوي، په پام کښې لرى یوه تعقیبه پروژه په لاره واچوی چې د بنوالی د پرمختیایی پروژی څخه په ابتدایی کارونو کې ملاتړوکړي تر څو دافغانستان د بوزغلی لرونکو ملی سازمان په یو خپل ځان متکی، دوام لرونکی مؤسسې په ډول خپلو فعالیتونو ته پراختیا ورکړي.
د بازار موندنی دا برخه د افغانستان د بوزغلي روزنکو د ملي سازمان د ګټې اخستنې لپاره برابرشویده ترڅو په ټول افغانستان کې د میوه لرونکو ونو د بوزغلي د صنعت لپاره د یوملی مرسته کوونکی نهاد په حیث؛ د ځایی بوزغلي روزنکو ټولنو او د انفرادي اعضاوو په واسطه کار وکړي.
داسې په نظر کې نیول شوي دي چې هغه پروژه د باغداری د پرمختیایی پروژی لخوا تعقیبیږي د هرې ځایی بوزغلي روزنکی ټولنی لپاره به د یوه تخنیکی مامور په ګومارلوسره تخنیکي ملاتړ (مرسته) برابر کړي. د دی تخنیکي مامورینو د دندو څخه یوه دنده دډی لاربنود څخه ګټه اخیستنه ده تر څو د بوزغلي روزونکی لپار د بازار موندنې بنی او سمی لاری چاری ترلاس لاندی ونیول شی. په راتلونکی کښې به د اصلاح شوو میوه نیوونکو ونو او نورو تکثیري موادو تولید چې د کفیت د معیارونو سره یې ټینګ تړاؤ د ښه فعالیت اوپه نتیجه کی یو قانوني معیار ته اړکیدل دي، ورکړل شوی دی. معیارونه، ثبت او د تصدیق نور طرزالعملونه به یې د بنوالی د پرمختیایی پروژې په نورو خپرونو کی بیان کړی شي.

## ۱.بازار موندنه څه ته وایی؟

بازار موندنه هغې پروسې ته ویل کیږی چه په هغه کی هغه څه معلومول دي چه ستاسو پیرودونکی یی غواړي او بیا هغه څه چی دوئ یی غواړي په یوه ګټه (فایده) یی هغوئ ته برابروئ.

خرڅلاو د بازار موندنی یواځې وروستۍ برخه ده؛ او ددی معلومول چې اخستوونکی څه غواړي یا اړتیا لرى دبازار موندنې یوه بله عمده برخه ده. خرڅ لاو عبارت د اخیستونکو دتولید شویو موادو لپاره دهڅولو څخه دی، که چیری تاسی داسی مواد تولید کړئ چې اخیستونکی ورته اړتیالری اوخرڅلاو یی ډیر آسانه دی.

دبوزغلی لرونکو لپاره له هر تولید د پیل څخه مخکې هغه معلومات چې اخیستونکی ته اړتیا لری ډیر اړین او معقول دي. که چیری بوزغلي لرونکی دا معلوم نه کړی چه پیرودونکی څه ته اړتیالري، ممکن داسی بوټي یا نیالګی تولید کړی چې اخیستونکی ئې نه غواړی او حاضر نه وی دهغوئ لپاره پیسی ورکړی.

د خرڅلاو لپاره د ونو د تولید پروسه کیدای شي ۲ کالو ته اړتیا ولري، او دا ممکنه نه ده چه دتولید دپروسې په جریان کښې یاله مودی وړاندی څه ته تغیر ورکړو له همدی کبله دوه کاله دمخه باید خپل تولید د خرڅلاو د توقع مطابق باید په سم ډول پلان کړي. چی د پلانګذاری مراحل ددی لاربنود ونوپه مجموعو کښې بیان شوی دی. بنوالان هغه خلک دی چې ونی له بوزغلی لرونکو څخه اخلي او په خپلو بنونو کښې د خرڅلاو لپاره کړی، هم باید دخپلو پیرودونکو په اړه فکر وکړي. ونی او انګور چه باغداران یی کښینوی کیدای شی چه تولید شوی محصولات ممکن کابل او یا نورو صادراتی بازارونو ته و لیږل شی. دغه محصولات ممکن تازه، یا د پروسس لپاره او یا هم په وچ ډل بازار ته وړاندی شی. که چیرې د میوه تولیدونکو غوښتنه تغیرومومي، بازار تغیروکړی او یا یو ډول میوه د اړتیا څخه ډیره تولید شی، نو د بنوال غوښتنې هم تغیرکوی بوزغلی لرونکی باید

وپوهیږی چه ونی په کوم وخت کی تر استفادی لاندی نیول کیږی ځکه بڼوال اکثراً په دی هکله له بوزغلی لرونکو څخه مشوری اخلی چه کومه ورایټی وکری.

په افغانستان کښی، د ۲۵۰۰ څخه ډیر بوزغلي لرونکی د ۲۲ بوزغلیو لرونکو ټولنو سره شتون لري. که چیری هر بوزغلی لرونکی وغواړی خپل کارو بار ته پراختیا ورکړی نو له اندازی څخه ډیری ونی به تولید شي. هر بوزغلی لرونکی باید دبازار او د ونو د تولید د ډیروالی په هکله تر ممکنه حده ښه معلومات او فکر ولری او دا هله ممکن کیږي چی دبوزغلی لرونکو ملی ټولنی او نوری محلی ټولنی له انفرادی بوزغلی لرونکو سر مرسته وکړی چی خپل د بازار موندنی او تولید فعالیتونه مخکی له مخکی پلان کړي.

بوزغلی لرونکی دونو په تولید او خرڅلاو لاس پوری کوي له همدی کبله هغوئ په ټولنیز ډول دبڼوالی په برخه کی پوره او پاخه متخصصین دی او د بڼو دطـرح کولو او نورو تخنیکی اړخونو او بازار موندنی په هکله له هغوئ سره صلاح مشوری تر سره کوی ممکن دغه مشوری دبڼونو د کښینولو د قراردادی په توګه او یا هم د درملو شیندلو د قرار دادی په ډول تر سره شی چی دا د عاید د ترلاسه کولو زمینه برابروی.

### دهغه څه تولید چی اخیستونکی یې غواړي

دا په یاد لرل ډیر مهم دي چه په ډیرو حالاتو کی اوس محال په افغانستان کښی څوک دمیوو دخرڅ لاو او بازار موندنی په هکله پوره معلومات نه لری اکثراً بوزغلی لرونکی د میوه لرونکو ونو د ډولونو، یا بازار موندنی په اړه ډیر پوره معلومات نه لری. دمثال په توګه هغه زردآلو چی باید په تازه شکل تری ګټه واخیستل شی له هغو څخه چی د وچیدو لپاره ښه دی، توپیر لري. دیو فصل یا میوی لکه دشفتالو په اړه بڼوال د ډیرو ورایټی ګانو په اړه معلوما تو ته اړده تر څو وکولای شی په مناسب وخت کښی یې راټول اودخرڅلاو بازار ته یې وړاندی کړي.
دبادامو په شان میوو لپاره، دا اړینه ده چه بڼوالان لږ ترلږه دوه ډوله بادام یو ځای وکری تر څو یو بل د ګرده افشانی زمینه را مینځ ته شی.همدا رنګه آلو او زرد آلو هم باید له یوی څخه ډیرورایټي ګانی یو ځای وکرل شی که نه له دی پرته به بڼوال هیڅ ډول میوه(حاصل) تر لاسه نکړی . بڼوال باید د دی وړتیا پیداکړي چه د ورایټي ګانو دا ترکیب برابرکړي او د اړتیا په اړه یی مشوری ورکړي

د لاربښود په دی ګڼه کښی د دغو ورایټي ګانو د روزنی په اړه معلومات نه دی ورکړل شوی . د ورایټي ګانو په اړه به معلوما ت په نورو لاربښودونو کی ورکړی شي. په افغانستان کښی دمیوو او مغزبابو ورایټی ګانی هومره نه دی آزمایښت شوی. دبڼوالی د پراختیای پروژی په هیواد کی د موجودو ټولو وراټیګانو ډولونه د بڼوالی د پراختیا پروژی په شپږو مرکزونو کی کرلي دي. په دغو مرکزونو کښی د میوو د مختلفو ډولو نو په اړه دمعلوماتو پیدا کولو کار جریان لري اودوئ دهغو معلوماتوپه اړه چه دوئ حاصل کړي دي په منظم ډول د مزرعی نمایشی ورځی جوړوي. بوزغلی لرونکی باید په دغو دمزرعی نمایشی ورځو کښی ګډون وکړی تر څو د بڼوالی له هغو یوشان معلوماتو څخه ګټه واخلی چه بڼوالانو پیدا کړي دي. ممکن بڼوال معلومات ورکړی چی کومی ورایټی ګانی باید وروزل شی پس هغوئ به بوزغلی لرونکو ته ددی ډول ونو دروزنو فرمایش ورکړی.



### دبوزغلی لرونکو لپاره پلان جوړول

لکه څرنګه چه مخکی روښانه شوی ده چی اکثره ونی د حاصل ورکولو لپاره د ۲ کلونو دوران ته اړتیا لري. په دی دوه کلنی دوری کی په بستر کی د نیله بوټو داستراحت دوره او یا ونی چه د نیله بوټو لپاره تخم تولیدوي، یا دمورنیو ونو دتولید لپارکرل کیږي، نه حسابیږی. هغه موده چی د تصدیق شویو پیوندی ونوځخه د پیوند د راټولولو څخه وروسته بوزغلی لرونکوته سپارل کیږي د بڼوالی دپراختیا د پروژی له خوا پینځه کاله په نظر کښی ورته نیول شوی دی.

که چیری مونږ د مختلفو فعالیتونو په هکله چې د بوزغلی لرونکوپه واسطه سرته رسیږي، او څومره مخکی هغوی پلانونه لري، باندی فکروکړو، مونږ ته دا څرګندیږی چې اکثره فعالیتونه باید دپنځواویا له هغی څخه د ډیرو راتلونکو کلنو لپاره پلان شی، مګر ځینی نور فعالیتونه له یوه کال څخه د لیږی مودی پلان ته اړتیا لري. په راتلونکو فصلونو یا مبحثونو کښی به دپلان جوړونی په مختلفو ډولو چه اړتیا ورته لیدل کیږي، بحث وشی.

که چیری یو بوزغلی لرونکی یا د بوزغلی لرونکو ټولنی وغواړی یو نوی ډول مڼه یا شفتالو وارد کړی دهغه عادی دوران په لاندی ډول دی:

| | |
|---|---|
| داول کال په نیمایی: | نیله بوټی باندی د مورنی ونی د تولید لپاره دپیوند راوړل او پیوندول |
| د ۲ کال پیل: | د ونی پریکول |
| د۳ کال پیل: | په بوزغلی کښی دمورنیو ونو کښینول |
| د ٤ کال په نیمایي: | دمورنی ونی څخه دپیوند اخیستل او په نیله بوټی باندی دهغه پیوند |
| د ٥ کال پیل: | قطع درخت بلند تر از قسمت پیوند |
| د٦ کال پیل: | د تصدیق شوی ونی ایستل او خرڅول |

د یونوی ورایټی دپیوند دراوړلو او دهغی د پیوندولو او ددی ورایټی د خرڅلاو پوری موده تقریباً څلور نیم کاله ده . دا چی دغه ورایټي د نورو څخه ښه ده یا نه ده، ممکن د آزمایښت نورو ډیرو پنځو کالو ته اړتیا ولری.

د پلانګذاری ټول ډولونه کولای شو په اوږد محاله، مینځ محاله اویا لنډ محاله پلانو وویشو. دبوزغلی لرونکو لپاره داوږدی مودی پلان د نوو مورنیو ونو په راوړلو سره د نوو انواعو په معرفي کولو پوری تړاو لری. اوږد محاله پلانول یا استراتیژیک پلان مونږ کولای شو د ۲ کلن یا ډیروکلوود راتلونکی پلان په نوم ونوموو.

دپلان ګذاری معمول ډول چی مونږیی د بوزغلی لرونکو لپاره فکر کوو، تولیدی پلان دی چی معمولاً د ۲ کلونو په بنسټ تر سره کیږی. کولای شو دا ډول پلان ګذاری ته "مینځ محاله پلان "ووایو. او مونږ کولای شو چه ووایو چه دا د هغو پلانونو سره تړاو لري چه په راتلونکی ۱ تر ۲ کال پوری پلان شوی وي.

او البته په هغه کښی نور کوچنی پلانونه لکه دپیوند پلان او نهالونو د ایستلو پلان ځای کړای شی. مګر دا دبازار موندنی په اړه چی غواړو په دغه لارښود کتاب کښی یی بیان کړو اړه نه لری.

دیو کلنو یا دهغه څخه دلږو پلانونو لپاره مونږ د"لنډ مهاله پلانګزاری" یا د یوکلني پلان نوم ورکولی شو.البته په هغه کښی به نور کوچنی لنډ مهاله پلانونه لکه دپیوند پلان، کیښنولو اویا د ونو دایستلو پلانونه ځای کړای شی. مګر په حقیقت کی د بازار موندنی د مفهوم په اړه چی مونږ یی غواړو په دی لارښود کښی یی بیان کړو، اړه نه لری.

### ۱,۲ دبوزغلی لرونکو لپاره دکړنلاری(ستراتیژیک) پلان ګذاری

د ښوالی پرمختیایی پروژی د بوزغلی لرونکو څخه "هرکله چه هغوی د بوزغلی لرونکو دټولنو غونډی چه د مورنیو ونو د کلونو دانتخابولو لپاره کوي"، مخکی له مخکی غوښتی دي چه هغوی باید دخپلو اوږدمهاله اهدافو په اړه فکر وکړي. دغه مورنی ونی به د ټولنو غړو ته د پیوند لپاره زخه

لرونکی ښاخونه د راتلونکو پنځو کلونو په ترځ کښی چمتو کړي. همدا ډول هغه کلونونه چی دبوزغلی لرونکو د ټولنوله خوا نه وی غوره شوی، د څو کلونو لپاره به په لاس کښی نه وی.

په داسی حال کښی چی دښوالی دپراختیا پروژه دکلونو دډولونو په هکله په نورو ګوټکښی تر لاس لاندی لری طمع نکیږی چی نوری ډیری سپارښتنی او توضیحات په نژدی راتلونکی کښی تر لاسه شي.

په داسی حال کښی چی د بنوالی دپراختیا پروژي نوری ورایټی ګانی اوکلونونه د ملي راټولونی په پلان کی نیولي دي. داسی طمع نکیږی چی نوری ډیری سپارښتنی او توضیحات به مخکی د۳ څخه تر ۵ کالو د نتیجو څخه تر لاسه شی. څرنګه چی مونږ دا وینوچه د نوو مورنیو ونو جوړول اوبیا له دغو مورنیوونو څخه د تصدیق شویو ونو تولید څلور کاله وخت ته اړتیا لري. په دی توګه مونږ ویلای شو چی دبوزغلی لرونکو ټولنی په ۲۰۰۸ میلادی (۱۳۸۷ هجری، شمسی) دکلونونو د راټولولو په واسطه ورایټی ګانی او کلون برابری کړی دی چی په راټلونکو لسو کلونو ۲۰۱۸ م (۱۳۹۷ هـ . ش) کی به په ټول افغانستان کی وکرل شي

د بنوالی د پراختیا پروژه دټولو بوزغلي روزنکو سره دهغوی د محلي ټولنو او دافغانستان دبوزغلی لرونکو د ملی سازمان له لاری مرستی کوي. دغه پروژه د ونو د ډولونو دازمایښت اود نوو ورایټی ګانو د معرفي کولو لپاره یواوږد محاله پروګرام لري. د اپروژی به دافغانستان دبوزغلی لرونکو له ملی سازمان او نورو مؤسسوسره دآزمایښت د معیارونو د برابرولو لپاره کار وکړی. با لاخره د افغانستان د بوزغلی لرونکو د ملی سازمان دونو دنویو ډولونو د آزمایښت او معرفي کولو دمعیارونو لپاره باید داړتیا وړ لاربنوونی برابری کړي تر څود بوزغلي لرونکو لپاره ښی وراټیګانی موجودی وی چه هغوی یی تکثیر او وپلوري.

یو بل داصلاح شوو نیله بوټو دمعرفی کولو د بازار موندنی اوږد مهاله پلان ته اړتیاده

د وایروسونو د ازمایښت او د وایروسونو څخه د ازادو کرنیزو موادو معرفی کول او پراختیا هم یوبله د اوږدی مودی هڅه او کوښښ دی.

دبنوالی پراختیاي پروژه له بوزغلی لرونکو سره مرسته کوی چی په تدریجی ډول دتصدیق یو سیستم معرفی کړی. دتصدیق معیارونه به نوروځایونو کښی تر بحث لاندی ونیول شی. دا واضح ده چی دتصدیق شویو ونو تولید ډیری بودیجی ته اړتیالری. نو لازمه ده چی تصدیق شوی ونی په لوړه بیه خرڅی شی تر څو نور لګښتونه تامین کړي . دبازار موندنی د یوی برخی تعریف عبارت دی دهغه څه د تولید څخه چی اخیستونکی یی غواړی یوه اندازی ګټه وکړي.

### ۲،۲ دبوزغلی لرونکو لپاره مینځ محاله پلانګذاري

مینځ محاله پلان ګذاري چی د هغو بوزغلی لرونکو دتولید د دوران لپاره تیاریري چی پیوند شوي نیالګي تولیدوی، چی په اوسني وخت کی د میوه نیوونکو ونو د بوزغلي تولید یوه ترټولو لویه برخه ده .

اوس محال، د نیالګیو تولید پرته له کوم صصح فرمایش څخه تر سره کیږي. په داسی حال کی چه موخه باید د حالاتو په ښه کولو سره دنیالګیو د تولید د وختی فرمایش مطابق برابر کړی شی. د ډیرو بوزغلي لرونکی لپاره د لږو معلوماتو په برابرلو سره چی څومره ونی کیږي د ونود تولید پر دوران پیل کوي. اوس محال هر بوزغلی لرونکی په خپل سرپه بوزغلي کی دنیالګیو پر تولید چه څومره تولید ولای شي، پریکړه کوي. په داسی حال کښی چی محلی ټولنی باید د ټولنود ټولو غړو لپاره ټول پروګرام څرګند او په اړه یی خبری اتری و کړي او هغوی ته معلومات ورکړي، او د افغانستان د بوزغلي لرونکو ملی ټولنه باید د دغو معلوماتو په اړه غور وکړی.

د افغانستان دبوزغلی لرونکو ملی سازمان د عمده کارونو څخه چه کولای شی د ونو دپلورلو او دراتلونکی کال لپاره د ونو د تولید د یومعقول شمیرد معلومولو په اړه معلومات برابرول دي. دا معلومات کیدای شی دا ډول وی چی تیرکال دزردالو بازارونه ډیر ښه وو او سږ کال هم ممکن د زردالو د ونو لپاره غوښتنه ډیره وي، یا دا چه په راتلونکی کی دبنونو د کښینولو یوه لویه پروژه په نظر کښی ده چی د نیالګیود تولید او کینښولو سره سره به پلورل هم و هڅوی.هغه څه چه مونږ یی د افغانستان د بوزغلی لرونکو د ملی سازمان څخه توقع لرو دا یو پیغام دی چی باید دزردالو ۴ په سلوکی او د بادامو ۶ په سلوکی وده باید پلان شی، یا هم دا ډول نور معلومات برابرول دي.

د ونو د ټول شمیر په اړه دا عمومي معلومات د نیله بوټو دتخم دکرلو په وخت کښی ګټور دي. دا وخت هر کال د قوس (نومبر) میاشت ده. بله لویه پریکړه د پیوند په وخت کښی هرکله چی ډولونه تعینیږی، نیول کیږی. په پلانګذاری کی دا باید په یاد ولرل شی چی ټول تخم ممکن شین نشی؛ ټول وده کوونکی نیالګي به ښه لویوالی( اندازه) و نه لري، پس ځینی باید له دوی څخه رنګي شي؛ چه

ټول پیوندونه چه پیوند شوي دي وبه نه لګیږی او همدا رنګه د سرونو د پریکولوڅخه وروسته په لومړي کی ضایعات هم وي.

ډیرتولیدی پلانونه به د دوو کلونو د دوران لپاره تیاریږي، داسی ګڼل کیږي چې د ټولو مورنیو ونو څخه پیوندي څانګې لاس ته راځي. د ا د ټولنی دنده ده چی دا یقیني کړي چی د بوزغلیو د ټولنی دهر غړي لپاره دهر کلون څخه کافي زخی موجودی دي، پس ټولنه به د مورنیو ونو د بوزغلیو دپلان جوړولو لپاره معلوماتو راټولولو ته اړتیا لري.

### ۳.۲. د بوزغلی لرونکو لپاره لنډ محاله پلانګذاری

مونږ لنډ مهاله پلان یواځی دیوه کال لپاره په پام کښی نیولای دی، پس لنډ محاله پلان د یو کلن پلان څخه عبارت دی. بلکه د کاروبار(کسب) مختلف اړخونه خپلو پلانونو ته لکه دتولید پلانونه، دکلنی بودیجی پلانونه او داسی نور کلني پلانونه د بازار موندنی سره تړاو لري چی دکلني لوړوالي د پلان په نامه یادیږي.
په هم دی ډول استراتیژیک پلان، یا اوږ د محاله پلان، اومینځ محاله پلانونه اود نورو تر سره شوو پلانونو مقدار ښایی د کوچنیو محلی ټولنوپه سطح ډیر لږ وی . اکثره د لوړوالي هڅی به د بوزغلی لرونکودځایی ټولنو په سطحه، یا په ملي سطحه به د افغانستا ن د بوزغلي لرونکو د ملي سازمان سره یوځای تر سره کیږی.

**په یو کلن ارتقایی پلان کی لاندی ځینی او یا ټول عناصر شامل کړی شوی دي:**

- معلوماتی پاڼی، کتلاکونه او پوسترونه.
- کرنیز نندارتون او داسی نورننداریتونه
- په آزمایشی مرکزونو یا د بوزغلی لرونکو په څمکو کښی نمایشی ورځی (ساحوی ورځی)
- عامه اړیکی، خبرونه، مرکـــي، او هم دا ډول له میډیا (رسانیو) لپاره
- په راد یو، تلویزیون او ورځپاڼو کښی اشتها رونه
- لاسی معلوماتی پاڼی (جنتری، د حاصل یا فصل پلانونکي، کمیسونه، پیالی، قلمونه او داسی نور
- د ونو لیبلونه

ځینی دغه مختلف عناصر به له یوه بل سره ګډ وي. معلوماتی پاڼی او کتلاکونه باید په کرنیزو نندارتونو اونورو عامه واقعاتو کښی په وخت برابر شی.

باید ددی کړنو څخه هر یو ډیر د مخه اوپه واضح توګه وسنجول شی . دمثال په ډول که چیری تا سو وغواړی چه دیوی میوی عکس ولری باید دا تصویر هغه محال برابر کړی چی نوموړی میوه موجوده وی . که وغواړو میوه لرونکی ونه د ننداتون په وخت کښی په ګل لوښی کښی ولرو باید په ژمی کښی ونه په ګل لوښی کی کښینوو هر فعالیت باید د یو ځانګړی اوریدونکي دتوجه لپاره وی او دلګښتونود صحح ځواب لپاره کافی توضیح ورکړی .کرنیز ننداتون به زرګونه کتونکی چی ښایی د بڼ د جوړو لو لپاره هیڅ څمکه ونلری ځان ته جلب کړي. هغوی به هیڅ کله اخیستونکی نه وی نو ځکه دهغوی د ایسته اچولو لپاره د معلوماتی پاڼو ډیر چاپ ته هیڅ راز اړتیا نشته.


**شکل ۸:** *نمایش زراعتی کابل، ۱۳۸۸*
*(لورا امبورګیا)*

دتبلیغاتو او اشتهاراتو لګښت باید وسنجول شی. ورځپاڼی، رادیو او تلویزیون، تل دجالبوخبرونو او تعلیمی پروګرامونو دجوړلو لپاره هڅه کوی . کیدای شی چه دخبرونو دموضوعاتو په حیث ډیر معلومات برابر کړو چی پایلی یی وړیا دي.

## ۳. د بازار ونډه

دبازار دونډی اساسی مفکوره داده چی دلته په بازارکی مختلف پیرو دونکی موجود دي چه مختلفو تولیداتوته اړتیا لري. دا څرګنده ده چی یو د بادامو روزنکی د بادامو ونی غواړي، او د شفتالو روزنکی دشفتالو ونو ته اړتیا لري مګر دا دبازارد و یش معنی نه ده.

په افغانستان کی به د بازارعمده ونډی لرونکی مؤسساتي پیرودونکي وي لکه دمرسته کوونکو تمویلونکی پروژی، سوداګریز بڼ روزنکي او هغه خلک یا پیرودونکي چی یو یا څو ونی د خپل کوچني کورني باغ لپاره غواړي.

په افغانستان کښی دمیوه لرونکو ونو د یوعصري بازار د پراختیا لپاره ډیر وختي دی چی دبازار په اړتیا پوه شو تر څو وکولای شو دهغوي اړتیا وی په ګوته کړو او دبازارعمده ونډی وویشو او ووایو چه څرنګه هغوی دا حاصلولی شي. په همدی حال کښی ځینی نور نظریات وړاندی کیږی چی بوزغلی لرونکی وکولای شی په هغوی فکر وکړی.

### ۳. ۱دښاری بڼونو ونډه:

- په پای کښی باید دټولو میوو اومغزبابو ډولونو چی خرڅیږي باید له تصدیق شویو ونوڅخه چه معنی یی دهغوئ لیبل لرل دي، تر لاسه شی. دکورني پیرودونکی لپاره، دا لیبلونه یا نور اضافي بسته بندی کول، دونی د ډول او دهغوئ د ودی د څرنګوالي په هکله معلومات ورکوي او د میوی یو رنګه عکس هم علاوه کولی شو هغه ډولونه چی خرڅیږی که چری ممکنه وي باید په خپله ګرده القاح کیدونکی وي. همدا رنګه کیدای شی په یوی ونی کښی ددوو ډولونو د پیوند لرونکو ونو پیرودونکی موجود وی چی دا دګرده افشانئ او متفاوتو رنګو او په مختلفو وختونو کښی دمیوو دپخیدو باعث کیږي.
- دونو مختلف ډولونه باید جدا جدا بسته بندی او په ځانګړو ځایو کښی باید وپلورل شی تر څو دا یقینی کړی چه هغه ونه چه پیرودونکی یی اخلي د کامیابیدو ښه چانس لري.
- په نورو هیوادو نو کښی ډیر پیرودونکی غواړي چه میوه لرونکی ونی په ګل لوښو کښی راونیسي ځکه دکال په هر وخت کی یی تر لاسه کولای او اینبودلای شی. دمیوه لرونکوونو یو شمیر ډولوته لکه مڼی کیدای شی په ټیټ قدو مورینو نیله بوټو په ګلدان کی پیوند شی چی دا دونی د وړوپیرودونکو (بڼوالو) لپاره ډیری ګټه وری دیځینی پیرودونکی ښایی دنسبتاً غټو ونو سره چی په یو کوچني چیلي سستم سره په ګلدان کښی روزل شوي وي، مینه لري. دبیلګی په ډول دشفتالو ونه کیدای شی چی د باد پکه په شکل په چیلو کښی تربیه شی، دتاکونو بوټی هم په همدی ډول تربیه اوخرڅیدلای شی.

### ۳,۲ دسوداګریزه بڼونو ونډه

- ټولی ونی باید څومره چی ژر تر ژره دا ممکنه وي، تصدیق شي، لیکن ډیر ساده لیبل کفایت کوي. د ونو په اړه ځانګړی معلومات په جدا ډول په معلوماتی پاڼو او یا هم د لاربښودونو په ځانګړی مجموعو کی برابریږي.
- د ګرده افشانئ (القاح) ځانګړی ډولونه، او یا د یو کامیاب حاصل د راټولونی ډولونه د پیرودونکی سره د یو منل شوي پلان له مخی بڼوالو ته یو یا دوه کاله دمخه د خرڅولو لپاره برابریږی.
- ونی په ځانګړیو بنډلونو کښی بسته بندی کیږی او پیرودونکو ته تسلیمیږي، یا هم په توافق شوی نیټی باندی د پیرودونکو لپاره تیاریږي.

### ۳،۳ سازماني پیرودونکو ونډه

- د تولید اړتیاوي به یی د سو داګریزو بڼوالو سره یو شان وي مګر د جنسونو او انواعو (وراېټیو) سره سره به یی د نیالګیو د مقداربرابرول ښایی ډیروي. کیدای شي چه اضافي خدمتونو ته لکه بسته کول، غونډول، لیږدول اوزیرمه کولو ته اړتیا وياحتمالاً د قراردادونو برابرول اود پیسوورکړه د یو مسؤلیت په ډول د خرڅوونکي پرغاړه شي.
- ممکن خرڅلاو دځانګړیو اشتهاری پا ڼو او یا هم دسازمانونو لکه د دولتی پروژو، مؤسسو او تمویلونکو مؤسسو دکلیدی خلکو سره د تماس له لاری تر سره شی.
- ډیر شمیر خلك له مختلفو سوابقو(تجربو) سره (مثلاً مدیر، د بڼوالی متخصص او حسابدار) کولای شی چه د پیریدلو د تصمیم په جوړولو کښی ګډون ولری.

## ۴. دبازار پلان جوړول

په افغانستان کی دبوزغلی ټول کارو بار د یو نفر او یا د یوی کورنی په واسطه تر سره کیږی. داسی متخصصین نشته چه بازار موندنه د هغو مفکورو سره برابر کړي چه په دی لار ښود کی وړاندی شوی دي. ځکه نو د بازار موندنی ټولی هڅی باید دافغانستان دبوزغلی لرونکو دملی سازمان او یا هم د بوزغلي لرونکو د محلی ټولنو له خوا تر سره شی.

هغه خلک چه دافغانستان د بوزغلی لرونکو دملی سازمان سره تړاؤ لري باید دبازاز موندنی پلانونو ته لاس رسرسی ولري.اوس محال دبڼوالی دپراختیایی پروژی دوه کارکوونکی خپل ډیر وخت دافغانستان دبوزغلی لرونکو دملی سازمان دتشکیلاتی جوړښت او پراختیا ته سازمان ورکولو او په هیواد کښی دمورنیو ونو دتولید اوننداړتونو د پراختیا په برخه کی د ملاتړ لپاره مصرفوي. اوس چی د بوزغلي لرونکو دټولنو ډیر د پراختیایی کارونو پړاوونه تقریباً سرته رسیدلی دي او د مورنیو ونو دبوزغلیو کښینول سرته رسیدلي دي. هغوئ کولی شي چه خپل ډیر وخت د بازار موندنی د پراختیا دپلانونوپه جوړولو تیرکړي.

ټول پلانونه باید دافغانستان دبوزغلی لرونکو دملی ټولنی دمدیره هیآت لخوا دتآیید وړ وګرځی. د بازار موندنی په پلانونو کی د صنعت دپلانو سره د کلنی لوړوالي پلانونه شامل دي. د بڼوالی د پراختیا یی پروژی ټیم به د مینځ مهالی مودی یا د تولیدي پلان جوړولو کی هم مرسته کوي، خال داچه دا په لویه کچه د محلي ټولنو یا د انفرادي بوزغلی لرونکو په سطح سرته رسیږي. هرکله چه په ۲۰۱۰ میلادی کال کی یوه نوی پروژه پیل شي د بڼوالی د پراختیاي پروژی ملاتړ به د وخت سره توپیر پیدا کړي اونوی تدابیر به وسنجول شي.

اکثره ستراتیژیک یا اوږد محاله پلانونه باید یوازی په کال کښی یو ځل تر سره شی . بوزغلی لرونکي د خپلو مورنیو ونو دبوزغلیو لپارد وراېټیو او کلونو صحح اندازه برابر کړی ده، او دا به په راتلونکو لسو کلو کی د تولید لپاره عمده وراېټي ګانی ( ډولونه) وی.

نو د بازار موندنی ستراتیژیک پلانونه د۲۰۰۹ کال لپاره د کلنی لوړوالی د پلانونو سره اړیکي لری. دا باید په یاد ولرو د بڼوالی پراختیایی پروژی تر اوسه دبوزغلي په صنعت کی د میوه لرونکو ونو د بوزغلي تولید نه دی شامل کړی. د بڼوالی پراختیایی پروژی په بازار کی د تصدیق شوو ونو دموجودیت دلوړوالی په اړه خپل ملاتړ ۲۰۱۲ میلادی کال(۱۳۹۰هجری، شمسی کال) په پیل کی محدود کړي.

دبڼوالی پراختیایی پروژه به دافغانستان د بوزغلي لرونکو دملی سازمان سره د تصدیق شویو ونو د تولید د مختلفو کټګوریو د لګښت د حسابولوپه اړه کار وکړي، او د بیه ورکولو په اړه به لازمی مشوری ورکړي. دبڼوالی پراختیای پروژه به د تصدیق شویو ونو رانیولو لپاره د بوزغلي لرونکو د خبرولو د پراختیایی د لوړوالی کوښښونه وکړي، او د افغانستان د

بوزغلی لرونکو د ملي سازمان دغړو سره  به د اخیستونکیو دجلب لپاره دتولیداتو کتلاکونه برابر کړی

دبنوالۍ پراختیای پروژه به د ونو د عملی ویش د ښه کولو په لاره کښی هم مرسته وکړي. کیدای شی تخصصی ننداړتونونه برابر کړي  چه په دی ننداړتونو کی به بوزغلي لرونکی د استعداد لرونکو اخیستونکو سره غونډې جوړې کړي او  هغوئ ته به د تصدیق شوو ونو د رانیولو گټې بیان کړي.  دا به مرستی وکړی تر څو فرمایشونه په ۲۰۱۰ کال کښی د پیوند له موسم څخه دمخه تر لاسه شي.

## ۵. د خرڅلاو پلان جوړول

ځنی بوزغلی لرونکي شته دی چه  دخرڅلاو د فصل لپاره ځانګړی کړنلاری لري. هغوئ خپلی ونی را وباسی او د خرڅلاو لپاره یی ځینو ځانګړو ځایونو ته لیږدوي. ځنی بوزغلی لرونکی حتی د خپلو ګاونډیانو ونی اخلي اویا یې په ټاګلي نرخ د هغوئ لپاره پلوري. د خرڅ لاو په فصل کی باید بوزغلی لرونکی په کابل کی سیلو ته مخامخ تشه ځمکه دخرڅ لاو لپاره ونیسی. ځینی  بوزغلی لرونکی به له لیری لیری ځایونو لکه هرات یا جلال آباد څخه کابل ته راځی.

 د خرڅولو دا ځایونه دښار دبیا رغونی سره په تدریجی ډول ډکیږي. د ونو معیار یی، مخصوصاً د ورایټیو د نومونو اود ریښو د لوڅوالي له آمله ډیرټیټ دی، چی د خرڅلاو دمخه وچیږی، نوپس د ودی امکانات یې ډیر ټیټ دی.

د کوڅی په یو کونج  کی د خرڅلاو په هیله د نیالګیو ایښودل دومره ښه نه دی. لویو ښوالو ته د مستقیم خرڅلاو پرته، د بوزغلی د صنعت د پرمخ بیولو د متخصصینو لاری دي چی کولای شي د خرڅلاو د فصل څخه دمخه دښه کیفیت ونی برابرولای شي، او پلورونکی ونی د کیفیت د یوڅه تضمین سره سره  په ښه حالت کی وي

د  کیفیت د مفهوم لوړول، ښایی د کیفیت د کنټرول دسیستم د نومونو سره تړاؤ ولري. په دی ترتیب، باید د یو واحد نیالګي څخه حاصل شوی  بیه هم لوړه شي.



**شکل ۹:** *فروش نهال های پیوندی در بازار*



**شکل ۱۰:** *نهال های پیوندی با کیفیت عالی آماده برای فروش (ادی ورنون)*

## ۶. دمحصولاتو پراختیا

اکثراً د خلکو لپاره د تر لاسه کوونکی محصول د مفهوم  درک کول ګران دي، مګر دعصري بازارموندنی سره د ارتباط  لپاره دفکر کولو دا برخه ډیر ارزښت لري. ښایی بوزغلی لرونکی فکر وکړي چی دشفتالو یوه ورایټي  "فورموسا" خرڅوی او  دایی محصول دی. په ډیره د غوره توګه باید فکروکړو او وپوهیږو چی دا واقعا دشفتالو د تصدیق شوی ونی فورموسا ډول دی او د شفتالو په نیله بوټی یی وده کړی،په سمه توګه ویستل شوی، تصدیق او لیبل شوی، دسته بندی شوی او د کروندی دروازی ته رسول شوی دی. که چیری

هم دا ونه یا نیالګی د کابل یو دوکان ته رسیدلی وي، دا مختلف محصول وخیژي، او دا به پرهغی باندی اضافي لګښت وي. که د شفتالوهم دا ورایټي په مایرا بولان یا بل نیله بوټی باندی وده کړي وي (پیوند شوی وي)، حاصل یی توپیر لري، دکار سرته رسول یی مختلف دی او د لګښت بنسټ یی هم توپیر لري.

تصدیق شوی میوه لرونکی ونه چی دیوی ثبت شوی ورایټي څخه لاس ته راغلی وی، دهغه ټولو میوه نیوونکو ونو څخه چه په اوس محال په افغانستان کی خرڅیږي، حاصل یی مختلف دی. ددی ډول تولید پراختیا په اوسني وخت کی د بوزغلي د صنعت د پراختیا لپاره ډیر اړین کار دی. ددی نوي تولید د لاس ته راوړلولپاره ډیر لګښت ته اړتیا ده او د ښوالو لپاره ډیر ارزښت لري (راتلونکی برخه یا څپرکي وګورئ) څکه نو دهغوئ د لاس ته راوړلو لپاره باید یوه ښه بیه وټاکل شی.

په تولیداتو کی ترټولو غټ تغیرات به هغه وخت وی چی له تخمي نیله بوټی څخه کلونی نیله بوټی ته لیږدول کیږي. دمنو لپاره کلونی نیله بوټی ته لیږدول د مخکی ازمول شوي دی مګر دجګړی دموجودیت او کافی پوهی، مهارت اود کرونکو موادو د نه شتون له کبله له یاد څخه وتلي دي. دبنوالی پرمختیایی پروژه غواړی چه په راتلونکی کی د یو شمیرفصلونوونو لپاره نیله بوټی وازمایي او له هغو کارونو او تجربو څخه چی په نورو هیوادونو کښی تر سره شوی دی، څرګندیږی چی ښوال کولای شی ددی ډول نیله بوټو څخه ګټه واخلی. مګر د ښوالی پراختیایی پروژه به دا نیله بوټي په تدریجي ډول مخکی له معرفي کولو د ازموینی لاندی ونیسی او ننداړتون ته به یی کیږدي. د بوزغلي صنعت لپاره، د ښوالی د پرامختیای پروژی له خوا ، دافغانستان دبوزغلی لرونکو ملی سازمان او نورو ټولنو ته بلنه ورکوي چی نیله بوټو په پراختیا او نورو تخنیکو برخو کی له هغی سره ملګرتیا وکړي.

کله چی دموجودو ورایټیو په اړه معلومات تکمیل شی، د ښوالي پرمختیایی پروژه به نورو نوو وراټیو معرفی کولو ته سترګی په لار وي چرته چه دهغوئ اړتیا لیدل کیږي. د بوزغلی صنعت به د نوو محصولاتو د پلورلو په لرلو سره لوړاو اصلی ګټه اخیستونکی وی. د بین المللي بوزغلي لرونکو څخه به د ډیرو عصری ورایټو لاس ته راوړل یا د هغی نوی ورایټی څخه دهری تولید شوی ونی لپاره قانونیت ورکول د فیس پر ورکولو د توافق پرته برابری نه کړی شي. د افغانستان د بوزغلی لرونکو ملی سازمان دنده لري چی دد ی دول موافقو لپاره خبری اتری وکړي، فیسونه راټول کړي او دا ډاډ حاصل کړی چه هیڅوک به له توافق او اجازه لیک پرته ددغو نویو ډولو په تکثیر لاس نه پوری کوي .

د میوه لرونکو ونو دتولید، تصد یق اوبازار موندنی دغه ډول له میوه لرونکو ونو پرته په نورو نباتاتو لکه زینتي، طبي او بوی لرونکی او په ځنګلی بوټو هم کیدای شی چه د تطبیق وړوي

## ۷. دخرڅ لاو ګټی

څرنګه تاسو ونی پلوری ؟ اویا په بل عبارت څرنګه دیوی پیژندل شوی ورایټی تصدیق شوی ونی په لوړه بیه دخپلو لګښتو دتامین لپاره خرڅوی. دغه ځواب کولای شو له اخیستونکو سره د اضافي تولید، یا دمیوی دښه کیفیت او یا د زیرمه کولولپاره د وړتیا په اړه دخبروکولو په واسطه ورکړو. تاسی د خپل محصول د پیردونی ګټه اخلی

اوس د یوی پیژندل شوی ورایټی یوه تصدیق شوی ونه او یا کلون کیدای شی چه کټ مټ دیوی ناتصدیق (ساده ونی) شوی ونی په شان په نظر راشی. دا به ډیره ناممکنه وي چی تاسو څوک سیلو ته مخامخ ( دونو خرڅ لاو په ځای کی ) وموموی چی حاضر شی ستاسو تصدیق شوی ونی ته د نا تصدیق شوی ونی په پر تله ډیره بیه ورکړی.پیرودونکی به یواځی ترټولوجګه، ډیره سالمه او ارزانه ونه انتخابوی.

دیوی ښی بیی دلاس ته راوړلو یواځنی لار داده چه پیرودونکي ته د تصدیق شویو ونو دګټو په هکله معلومات ورکړو. او هغوی ته قناعت ورکړو چه دپیرودونکی لپاره په یوه جریب کښی دناتصدیق شویو نیالګیو کښینول چه د یوه نیالګي بیه ۶۰ افغانی چه لګښت به یی ۸۰×۶۰ افغانی ( په یوه جریب کښی ۸۰ ونی په ۵×۵ فاصله کښی) په یو جریب کی به ټول لګښت۸۰۰, ۴ افغانی وي. د اصلاح شوی اود ښه کیفیت لرونکی د یوه نیالګي بیه ښایی چه۱۸۰ افغانی وي چی په یوه جریب کی به ۱۴۴۰۰ افغانی،چه ۹۶۰۰ افغانی له لومړنی ډول څخه ډیری دي. نورټول لګښتونه لکه کیمیاوی سره ، دځمکی تیارول، کارګر،اوبه کول او درمل شیندنه‌او نورلګښتونه یی یو شان دي. د ښه کیفیت لرونکي بادام ستاربائي یو کیلو ګرام کیدای شی په ۵۰۰ افغانی وپلورو، په داسی حال کښی چی د بادام عادی ډولونه لکه خیرودیني یا قمبری ښایی یوه کیلو له ۲۰۰ افغانیو څخه ټیټه بیه ولری. دستاربائي ډول په یوه جریب کښی ۲ یا ۳ کاله وروسته د۱۰۰ کیلو ګرامو برابر حاصل ترلاسه کولای شو، د ستاربایي د اصلاح شوي کلون لپاره کولای شو چه دری برابره ډیره پانګه واچوو.

دا لګښت یواځی یوه محاسبه ده، او د بیلا بیلو میوو د اصلاح شوو مختلفو ورا یټیو ګټی ښودل شوي دي. دا ګټی باید په تجربوي پټیو او ننداریزه ښونو کښی د با اعتماده او مشهورو خلکو له خوا تر سره کیږی، وښودل شي. د نیالګیو پیرودونکی باید په پلو رونکی باور ولری، پس دا د اهمیت وړده چه د تصدیق ارګانونه دتصدیق شویو ونو د ګټو په اړه تبلیغاتی پاڼی برابری کړي.

همدا رنګه داهم ډیر اهمیت لري چی په کرنیزو ننداړتونوکی دخرڅولو په وخت کی هم د نوموړوګټودښودلو په اړه باید فکر وکړی شی. بوزغلی لرونکی باید هغه ونی چه میوه یی څینی تر لاسه کړی وي ننداړتون ته وړاندی کړي نه دا چی یوازی ونه، دا کیدای شی چی حقیقي ونی وي ، تیاری شوی او په ګلدان کی روزل شوی وي، وښودل شي؛ یا هم د پوسترونو او ویدیویی فلمونو له لاری وښودل شی. د ورته بالغی کلونی ونی څخه د میوو نمونی اخیستل او ښودل هم ډیر ګټه ور واقع کیږي.

د کامیابی پلورنی یو لوی عنصر د پیرودونکو د باورترلاسه کول دي . هغه څوک چی بڼ جوړوي د راتلونکو۲۰ کلونو لپاره پانګه اچونه کوي اودا ډیر اهمیت لري چی دا خپل بوزغلي لرونکی وپیژني. ښایی بڼوال پخپله له بوزغلی لرونکی سره اړیکه ونه لری، مګر د بوزغلي لرونکو لپاره یوه چاره داده چی د بوزغلی لرونکو ټولنی کیدای شی هغه غړي چی باور پری لری هغوی ته معرفي کړي. دا یوه پروسه ده چه دڅو کلونو لپاره دوام لری.

## ۸ . دنیالګیو دبیوټاکنه

د اکثرو بوزغلیولرونکو لپاره دنیالګیود بیو دټاکنی اوسنی سیستم ډیر ساده دی، که چیری هغوی په ښاری مارکېټ کی نیالګی خرڅ کړي نو هغوی به کوښښ وکړي چی یو پیوندي نیالګی په ۶۰ افغانۍ وپلوري. هغه بوزغلی لرونکی چی په خپلو بوزغلیو کی نیالګي پلوري ښایی هغه څوک چی دا نیالګي رانیسي پر ۳۰ افغانیو رانیولو ته اماده شي. دا څکه چه مستقیم اوسط لګښت په یوه نیالګي د تخم ، کیمیاوی سری، د پیوند کولو دکارګر او نورپه شمول ښایی ۱۰ افغانۍ وي. کله کله بوزغلی لرونکی ډیر جګ تاوان هم پر ځان منی، ځکه دهغوی خالص اضافي (مواد) لګښت ډیر جګ دی. د تاوان عمدهْ وجه د نیالګیو د خرڅولو په وخت کښی د هغوی د نا توانی په سبب دی . ځکه هغوی د بازارد اړتیا څخه ډیری ونی تولیدوی او یا هم دخرڅولولپاره اړیکی نیوونکي اشخاص نه لري

هرکله چی بڼوال د نیالګیو د تصدیق یو سیستم ته ور داخل شی نو دهغوی دتولید د دوران لګښت ډیر لوړیږی، او دا څکه نو هغوی دبیو د ټاکنی لپاره یوی سمی محاسبی ته اړتیا پیدا کوی .

دا لارښود دهرډول نیالګي بیه نه شی محاسبه کولای، لکه د محاسبی ځینی قواعد او اصول یی چی بیانوی، لیکن بیا هم ځینی اصول یی تطبیقولای شو. دبیلګی په ډول، مونږ.ویلای شو چی ټول هغه فعالیتونه چی بنوال یی دونو د کیفیت دلوړولو لپاره تر سره کوي باید له هغو څخه ګټه تر لاسه کړي. پس که چرته د لیبل لپاره ۳ افغانۍ پری کړی شي، نو د بوزغلي لرونکی کولی شی چه ۴ افغانی علاوه کړي. که چیری بوزغلي لرونکی داخیستونکی لپاره دیوه نیالګی پر لیږدولو ۵ افغانی پری کړی ممکن هغه د اخیستونکی څخه په یوه نیالګي ۷ افغانی وغواړي. اوس دا یو ښه نظر دی، پرته دهغه که چیری یو بوزغلی لرونکی بی تدبیره وی ممکن دیوه نیالګی په بدل کښی هغه قیمت (بیه) چی دی یی غواړی تر لاسه کړی ډیره لوړه وي او دهغه ګاونډیان به ښایی له ده څخه په ټیټه بیه خپل نیالګی وپلوری. په بوزغلی کښی یوه لار چه ډیره مؤثره ده هغه د تخصص لاره ده نه دهرڅه (کار) تر سره کول.

ډیربوزغلي لرونکی د خپلو مختلفو عملیاتو د لګښتونو لکه پیوندول، چی د یوه پیوند شوي نیالګی لګښت څومره دی. البته نور لګښتونه لکه قلبه، کیمیاوی سری او اوبه کول هم شتون لری چی د ټولی کروندی څخه لاس ته راځي. چی دی ډول لګښتونو ته د سر بیه ویل کیږي. نوکه چیری د لګښت ټوله مجموعه ۵۰,۰۰۰ افغانۍ وي او په پټی کی ۱۰۰۰۰ نیالګی روزل شوی وی نوبیا دهر یو نیالګی لګښت ۵ افغانۍ دی.

په همدی ډول، باید بوزغلی لرونکی د خپل نظر وړ ګټه محاسبه کړی. که چیری بوزغلی لرونکی پریکړه وکړي او و غواړی چه په راتلونکی کال کښی۴۰،۰۰۰ افغانۍ ګټه تر لاسه کړی او ۲۵۰۰ نیالګی خرڅلاو ته وړاندی کړی هغه وخت دی باید۲۵۰۰ /۴۰۰۰۰۰ یا ۱۶ افغانی دهری ونی پر بیه باید علاوه کړي.
دافغانستان دبوزغلی لرونکو ملی سازمان دبوزغلی لرونکو د ملاتړ په توګه کولای شی د ونو دمختلفو ډولونو د لګښت دمعلومو لو لپاره یوه غوره سروی ترسره کړي . وروسته دغه موسسه کولای شی د نیالګیو دهرډول بوزغلي لپاره د بیه یی په هکله سپارښتنی وړاندی کړی چی هغوئ باید ددی سپارښتنو سره سم وپلوري.
دغټو فرمایشونو، او د مخکی څخه د فرمایش ورکولو لپاره، په ځانګړي ډول که چیری هغوئ په ټیټه بیه ملګرتوب وکړي، نو په بیه کی کیدای شي چی کمښت راشي.



## ۹. دټولنی پروګرامونه

دټولنی سره په تړاو د بازار موندنی لپاره هڅی، د ټولنی ډیر پروګرامونه کولی شی چی دټولنی د غړو د میوه لرونکو ونو د بوزغلیو د فعالیتونو څخه د ګټی په زیاتولو کی مرسته وکړي.
په لاندی جدول کښی دټولنی د احتمالی پروګرامونو لنډیز او د اړونده زده کړو مواد ته دبنوالی د پرمختیایی پروژی د روزنیزوخپرونو په پروګرامونوکی پراختیا ورکړی شوی ده:

| دټولنی کړنلاره (پروګرام) | دزده کړی مواد |
|---|---|
| **دمیوه لرونکوونودتولید ښه والی** | **ګڼه ( ۱ )**<br>**دمیوه لرونکو ونو دبوزغلیو صنعت** |
| • ترویج او بازار موندنه<br>• دتولید پلانول او هم غړی | **دلارښود لومړی کتاب ۴ برخه**<br>دمیوه لرونکو ونو د بوزغلی لرونکو ټولنی |
| • دمورنیو ونو تولید<br>• دتصدیق شویو قلمو تولید | **دلارښونی کتاب ۲**<br>دمورنیو ونو بوزغلی |
| • دتصدیق شویو مورنیو نیله بوټو تولید<br>• دتصدیق شویو نیالګیو تولید | **د لارښود کتاب ۳**<br>دمیوه لرونکو ونو دبوزغلیو تولید |
| **اخیستونکیو دخدمتونو پراختیا**<br>• دپیوند خدمتونه<br>• د بڼ طرحه او نقشه<br>• دښاخه بری خدمتونه<br>• د ګرده افشانی خدمتونه<br>• دبڼ دمدیریت خدمتونه او دناروغیو او آفتونو هر اړخیزه مخنیوي | **دویمه ګڼی**<br>**د بڼ د مدیریت لارښود کتاب** |

## لومړی ضمیمه: د افغانستان دبوزغلی لرونکو ملی سازمان:

**اساس نامه**

**لومړی ماده: حقوقی حالت:**

**۱- الف. نوم:**

د دغی موسسی نوم "دافغانستان دبوزغلی لرونکو ملي سازمان" دی چی په دی قانون کښی یې مخفف (**ابلمس**) دی.

**۲- الف صلاحیت:**

**ابلمس** یو قانونی سازمان دی او دخپل قانون په رڼا کی د حقوقو اوصلاحیتونو(زمه واریو) درلودونکی دی.

**۳-الف موقعیت:**

دابلمس مرکزی دفتر په کابل ښارکښی دی او څانګی به یی داړتیا په وخت کی په ولایاتو کښی جوړیږی.

**۴-الف د اساس نامی ژبه:**

د ټولنو دد ی مقالودمتن رسمي ژبی ملي ژبی پښتو او دري دي.

**۵-الف حقوقی حالت:**

ابلمس یوه خیریه (ګټه رسوونکی)، د پراخ نظر خاونده، ټولنیزه، غیر دولتی، غیر سیاسی او غیر انتفاهی مؤسسه ده. دخپلو موخو او فعالیتونو په ترسره کولو کښی به دافغانستان د اساسی قانون او دغیر دولتی مؤسساتود قانون رعایت کوي اودټولنی د مقالو ددی متن مطابق به فعالیت کوی

**۶-الف ثبت:**

ابلمس د یوی حقوقی شتمنی په توګه د (سوداګری اقتصاد په وزارت) کښی ثبتیږی.

**۷-الف مای کال:**

دابلمس مالی کال دافغانستان دمالی کال (دحمل له لومړی نیټی څخه دحوت تر پایه) دی

**۸-الف نسان:**

ابلمس به یو رسمی مهراولوګو یا نښان لري چی دمدیره هیآت له خوا به تصویب کیږي او دمدیره هیت د لوی رئیس سره به ایښودل کیږی.

د افغانستان د اساسی قانون او د رسنیو د قانون په رڼا کښــی د خپل موخواو اهدافو د تبلـیغ په خاطربه ازاده خپرونه لری او له نورو ټولنیزو رسنیو څخه به د اړتیا په وخت کی ګټه اخلی

**دویمه. ماده: موخی او فعالیتونه**

**۱ - ب: عمومی موخی:**

ابلمس یو غیر دولتی خیریه موسسه ده چه د بوزغلیو د کاروبار دپراختیا، د میوه نیوونکو ونو د مختلفو ډولونو او تاکونو اصلاح؛ د میوه لرونکو او غیرمیوه لرونکو ونو د نوو ورایټیو د ترویج؛ دلابراتوارونو جوړول؛ دمثمرو او غیر مثمرو نیالګیو معرفي کول، ګلونه او زینتی واښه؛ دآفاتو او ناروغیو د کنترول درسته او سمه لاربښوونه ؛ د بیلابیلو تخنیکی خدمتونو وړاندی کول؛ د تولید او بازار موندنی په هکله بوزغلی لرونکو ته خدمت کول دي.

## ۲ - ب فرعی موخی:

دهیواد په ګوټ ګوټ کښی د ځایی بوزغلی لرونکو سره د مرستی په اړه ابلمس لاندی موخی تعقیبوی:

۱. په ملی کچه د بوزغلی لرونکو ترمینځ دعملی او نظری کارونو د شریکولود زمینی په برابرولو کی مرسته کول.
۲. دټولنو دغړیو دتشکیلاتی طریقواو دسوداګریزو کړنو سمون؛.
۳. دبوزغلی د اړتیا وړ لوازمو ته دلارسی ښه والی لکه ماشینونه، وسایط ، پور او بازار موندنه؛
۴. دټولنو د غړیو نوی او پرمختللی تکنالوژی، د کیفیت او تولید د ډیروالی زده کړی ته دلاس رسي د ښه والي لپاره د ګټورو معلوماتو خپرول؛
۵. دبوزغلی د صنعت د ښه کولو لپاره د ښو او سمومفکورو او وړاندیزونو وړاندی کول؛
۶. د بوزغلی د روزنی، د ځانګړو ناروغیو او آفتونو پیژندلو، او دهغوی د کنټرول د سمو لارو د موندلو لپاره داړتیا وړارقامو او معلوماتو راټولول؛
۷. دبوزغلی دصنعت دمعیاری کولو لپاره هڅی؛
۸. دبوزغلی دصنعت د پراختیا لپاره دکورنی او بهرنی پانګی اچونی جلب او دمالی او تخنیکی امکاناتو برابرول؛
۹. دغړیو ټولنو حقوقو ملاتړ او د هغو عملونو څخه ساتنه ده چی د ابلمس موخو (دآرمانونو) دریښتنی ثابتولو لپاره یی تر سره کوی؛
۱۰. دبوزغلی دپراختیا دلاری څخه د خنډونو له مینځه وړل، او د بوزغلی روزنکو لپاره د لا ډیروقانوني اسانتیاو برابرول
۱۱. دبوزغلی د نړیوال صنعت د معیاری کولو څخه ملاتړ او ترویج

## ۳- ب خدمتونه.

ابلمس لاندی خدمتونه تر سره کوی:

۱. د دی کاروبار لپاره دغړیو ټولنو هڅونه تر څو هغوی مختلف مثمر او غیر مثمر نیالګی تولیدکړي؛
۲. په آزاد بازاز کښی دسیالی کولود وړتیا لوړ والی؛
۳. دغړیو ټولنو لپاره داړتیا وړلابراتوارونوجوړول؛
۴. په ارزانه بیه د ملي او بین المللي سرچینو څخه د ښه کیفیت د مختلفونیالګیو ډولونو ته د غړیو ټولنو دلاس رسي لپاره د اسانتیاو برابرول؛
۵. د ټولنو دغړو د عاید او ژوند د ښه کولوستونځی او نوری اړتیاوی موندل او په نښه کول؛
۶. بازارته د با کیفیته تولیداتو په وړاندی کولو کښی دبوزغلی د ښو عملیاتو د تطبیق اوپراختیا په برخه کی مرستی برابرول؛

## دریمه ماده:غړیتوب

### ۱. ج: په شرایطو برابر غړي

د بوزغلی هغه ټولنه چي له دولت سره ثبت وي، کولای شي د **ابلمس** غړیتوب تر لاسه کړي.

### ۲ -ج: غړیتوب لپاره وړاندیز

د ابلمس د غړیتوب وړاندیزد ابلمس په مخصوصي فورمي کي لیکل کیږي اوبیا د مدیره هیائت منظوري اخیستل کیږي .غړی ټولنی د اساسنامي متن او د ابلمس د فیصلو په منلو مکلف دي.

**۳- ج: حقوق او امتیاز:**
د ټولنی ټول غړي د **ابلمس** د اساسنامې (قانون) دمتن پربنسټ د ابلمس دحقوقو او ګټو څخه ګټه اخستلای شي.
**۴-ج: د رای ورکولو حق:**
دټولنی هرغړي د هغې موضوع لپاره چې رايې اخیستنې ته وړاندې شوی وي د یوې رایې حق لري .
**۵_ج: د اخلیدل (شاملیدل) او د داخلیدو فیس (حق الحضویت):**
۱.د داخلیدلو(شاملیدلو) فیس:
هر غړی ټولنې (د غړیو په شمیر) فقط یوځل د ( ) په ور کولو مجبوره ده
۲. د غړیتوب فیس (حق العضویت):
هره غړی ټولنه (د غړیو په شمیر) د کلنې غړیتوب ( ) په ور کړې مجبور ده
**۶- ج: استعفاء:**
هره غړی ټولنه لوی رئیس ته د لیکلی در خواست په ور کولو سره استعفاء کولې شي مګر ( د غړیتوب دپیل څخه د استعفا تر ورکړی) په موده کې د خپلو کړنو په هکله نشي کولای ځان ناشمیرلی وګڼي. مګر د تازه لګښتو، د شا ملیدواو د غړیتوب فیس یا بخشش نه شي ورکول کیدلای.
**۷_ ج: د غړیتوب سلب (ختمونه):**
لومړي: هر غړی ټولنې چې له غړیتوب وروسته تر ۲ میاشتو حق العضویت ور نه کړي غړیتوب یې سلب او د **ابلمس** د حقوقو او امتیازونو څخه ګټه نشي اخیستلای.
دویم : کله چې د **ابلمس** دمدیرانو دهیات د وه پردری غړي د یوی غړی ټولنی د غړیتوب دله مینځه وړلو پریکړه وکړي نوموړی غړی به له **ابلمس** څخه ویستل کیږي د ویستلودلیلونه یی په لاندی ډول دي :
۱- د ابلمس د پریکړو، قانون او لوایحو څخه سرغړونه،
۲- د **ابلمس** د ګټو پر ضد کړنی (دټولنی دغړو سره باید مخکی د غړي د ویستلو یاسلبولو د پریکړي په اړه جلا جلا اړیکی ونیول شي)
ذکرشوو غړو ته باید مخکی د غړیتوب له سلب څخه لس ورځې دمخه خبرداری ور کړل شي. نوموړی غړي حق لري چه د مدیره هیائت په وړاندې له ځانه دفاع وکړي (د غړیو د سلب څخه د مخه باید دنوموړی ټولنی د غړیو سره اړیکی ونیول شي)

دریم- د مدیره هئیت د رئیس لری کول: د مدیره هیائت رئیس د مدیره هیائت د دوه پردری (۲/۳) غړو د تصمیم پر بنسټ له دندې څخه لري کیږي . د لری کولو د لیلونه:
۱ ــ د ابلمس د اساسنامې له متن، لوایحو، او پریکړو څخه سرغړونه
۲ ــ د ابلمس د ګټو پر ضد کړنې.
نوموړي مقام ته به له لری کولو څخه لس ورځې د مخه خبر ورکول کیږي. هغه سړی/ ښځه حق لری چه د مدیره هیائت په وړاندې له خپل ځان څخه د فاع وکړي.

**څلورمه ماده: جوړښت، دندې او صلاحیتونه:**
ابلمس لاندې تشکیلاتي جوړښت لري.
۱ ــ عمومي جرګه
۲ ــ مدیره هیائت
۳ ــ د رهبری هیائت

**۱ - د: عمومي جرګه**
عمومي جرګی د ابلمس صلاحیت لرونکي مرجع ده. عمومي جرګه د غړیو ټولنو د مدیره هیائت له ۲ منتخبو غړیو څخه جوړ دی.

**۲- د: د عمومي جرگې دندې او صلاحیتونه:**

عمومی جرگه په لاندی موضوع گانو پریکړه کوي:

۱. د مدیره هیائت د غړیو د شمیر تعینول
۲. د قانون دمتن تصویب او تعدیل
۳. مدیره هیائت او د ارزونی د کمیټی لپاره لارښوونی برابرول .
٤. دهغو دندو تر سره کول چې د مدیره، هیائت له خوا ورسپارل کیږي.
۵ . د مدیره هیائت د رپورټونو اوریدل او د اړوندو تصمیمونو نیول
۶. د لایحو منظورول
۷. دولسوالی او یا دولایتي نمایندگیو د تآ سیس یا انحلال په اړوند د لوایحو تصویبول

**۳- د برخه: د عمومي جرگې غونډی (ناستي)**

د عمومي جرگې ناستي به په کال کې یو ځل د مدیره هیت له خوا په تعین شوی محل او نیټې باندی جوړیږي. د عمومي جرگې فوق العاده غونډی د رئیس دلیکل شوی وړاندیز او مدیره هیائت د ۳/ ۲ (دوه پردری) غړیو د تصویب او یا هم د مدیره هیائت د ۳/ ۲ (دوه پردری) غړیو په وړاندیز جوړیږي.

پریکړی، تصمیمونه او قانوني اسناد د عمومي جرگې د غړیو په ساده اکثریت او عمده او فوق العاده تصمیمونه د غړیو ۳/ ۲ (دوه پردری) درایو په اکثریت سره تصوییږي.

د -٤ برخه: د عمومي جرگې د غونډو لپاره بلنه:

- د عمومي جرگې غړي به په لیکلي توگه بلل کیږي.
- دجرگې عادي غونډو ته بلنلیک ۳ اونی دمخه او عمومي غونډو ته یو اونی د مخه صادریږي.

**پنځمه ماده. مدیره هیائت:**

**ج-۱ برخه: د مدیره هیائت دغړو شمیر:**

- د ۱ **بلمس** مدیره هیائت د غړیو ټولنو د مدیره هیأتونو د ۲ منتخبو غړیو څخه جوړیږي.
- د مدیره هیائت غړي د ۳ کلونو لپاره ټاکل کیږي او هیڅ قید نه لري چې یو غړي څو واره پرله پسی انتخاب شي او خدمت و کړي.
- د مدیره هیائت دغړي تش ځا ی (گوښه کول، استعفأ یا دمړیني په صورت کې) کیدای شي چه د هغې غړی ټولنی لخوا چې نوموړی غړی ور پوری اړه لري د خپل منځی انتخاباتو په واسطه ډ ک شي.
- د مدیره هیائت غړي د معا ش مستحق ندی مگر د کورنیو اوبهرنیوسفرونو، کرایی او سفریی له دی څخه مثتثنی دي.
- د مدیره هیائت منتخب غړي به په خپلي لومړنی غونډه کې د ابلمس رئیس معاون د دارالنشاء مسئول او مالي مسئول ټاکي.
- مدیره هیائت د ابلمس د عمومي جرگې د پریکړو د پلی کولو دنده لري او همدارنگه د عمومي جرگې د دوو ناستو تر مینځ په مودی کې له ابلمس څخه استاذیتوب کوي.
- د مدیره هیائت په غونډو کې عمومی رئیس درایی د حق دلرلو پرته گډون کوي.
- د ناستو د ښه سمون او اجندا او دمدیره هیت د نورو پریکړو د اسنادو د برابرولو لپاره، دارالنشاء دنده لري چه د عمومي رئیس په مرستې او همکاری ور سپارل شوی دندې پر مخ بوځي.
- د دارلانشاء په راس کې د دارلانشاء رئیس چې دغړیو له مینځ څخه د مدیره هیت له خوا ټاکل کیږي، قرار لري.

**ج- ۲ برخه: د مدیره هیائت دندې او صلاحیتونه:**

مدیره هیائت د ابلمس د ټولو کارونو د نده په غاړه لري د قانون دمادو او دعمومی جرګی د پریکړو پر بنسټ لاندې کړنې تر سره کوي:

۱. د قانون د مادو په رڼا د موخو دلاس ته راوړلو لپاره لارښوونی برابول.
۲. عمومي جرګی ته د غور او څیړنو لپاره د قانون دمادو د تعدیل او بیا کتنی لپاره د وړاندیزونو وړاندې کول.
۳. د کلني تشکیل او بودیجې منظوري.
٤. د عمومي ریس اود څانګو دمدیرانو او نورو کارکوونکو او مستخد یمینو دمعاش د اندازې ټاکل او دحق الشمول او حق العضویت د اندازې ټاکل.
٥. د ابلمس د مالي وضعت تحلیل او په دې اړوند عمومي جرګی ته رپورټ ور کول.
٦. داړتیا په وخت کې د تخصصي کمیټو رامینځ ته کول.
۷. د عمومي رئیس ټاکل او لیري کول.
۸. د ابلمس ته داړتیا په وخت کی د عمومي ریس په وړاندیز د بهرني متخصص داستخدامولو منظوري،
۹. د عمومی رئیس د وړاندیز پر بنسټ د فیسونو تعینول ،
۱۰. د تخصصي کمیتو د کړنو څیړنه او عمومي جرګي ته راپور ور کول،
۱۱. د ابلمس په چوکاټ کې د مؤقتي، مسلکي ، فني او روزنیزو مؤسسو رامینځ ته کول،
۱۲. د عمومي رئیس د وړاندیز پر اساس د ابلمس دغړیو د مکافاتو او مجازاتو منظورول،
۱۳. د عمومي جرګی د غونډو لپاره د اجندا برابرول،
۱٤. د ستنزو دپیژندلو او امکاناتو ته دهغوی د لاس رسی په خاطر د ولسوالیو او ولایتونو نمایند ګیو ته د سیمنارونو او کنفرانسو نو منظورول،
۱٥. په هغو موضوعاتو باندې غور او څیړنه کول چې د ولسوالیو یا ولایتي استازیو له خوا وړاندې کیږي
۱۶. د مدیره هیئت له خوا د ابلمس لپاره د مالی او حسابي مدیر ټاکل
۱۷. دټولنی د قانون د متن مطابق صلاحیت او نوری دندی سرته رسول



**ج- ۳ برخه:**

د مدیره هیائت غونډې (ناستي)

- دمدیره هیائت عادي غونډې په هرو ۳ میاشو کې یو ځل دایریږي. فوق العاده غونډې د غړیو د اکثریت په وړاندیز او یا د لوی رئیس د لیکل شوي د رخواست پر بنسټ جوړیږي . عادي ناستوته بلنلیک دوه اونی د مخه او فوق العاده ناستوته یوه اونی دمخه صادریږي.
- دمدیره هیائت غونډی به د غړیو د اکثریت په شتون او فوق العاده ناستي د غړیو د دوه پر درې ( ۲/۳) په ګډون جوړیږي.
- د مدیره هیئت د د وو غونډو تر مینځ مدت کې د مدیره هیائت رئیس له ابلمس څخه اساذیتوب کوي.
- دمدیره هیائت په غونډو کې عمومي رئیس به د رایې له حق پرته ګډون کوي.

**ج- ۴ برخه : کیمټې:**

د ابلمس کمیټې د چارو دښه پرمخ بیولو لپاره د اړتیا مطابق په مختلفو برخو کی جوړیږي، داړونده کمیټې رئیس به د کمیټې د ناستو نیټه او وخت ټاکې.

**شپږمه ماده: اجرایه مجلس**

**د – ۱ برخه: ګومارل:**

د ابلمس اجرایه هیائت عبارت له رئیس او د څانګو د مدیرانو څخه دی، چې د مدیره هیائت له خوا دیوې رقابتي پروسي په اساس د تخصصي وړ تیا او شایستګی پر بنسټ دهغوی له مینځ څخه ټا کل کیږی.

هغه کسان چې د بوزغلی روزنی کاروبار پرمخ بیایی د عمومی هیائت د غړیتوب لپاره نشي نومول کیدای.

**د -۲ برخه : دکار کوونکو ټاکل:**

- دکار کوونکو ټاکل د اړونده څانګي د مدیر په وړاندیز او د عمومي رئیس په منظوری تر سره کیږي.

د کارګرانو ټاکل د اداري مدیر په وړاندیز او د عمومي رئیس په منظوری تر سره کیږي.

**د- ۳ برخه: د اجرأیه هیئت صلاحیتونه:**

۱. اجرایه هیئت د ابلمس د ورځینو چارو د اجرأتو او نظارتو صلاحیت لري او له خپلو اجرأ تو څخه به مدیره هیائت ته حساب ورکوي.
۲. اجرایه هیئت د مدیره هیائت او عمومي جرګی د پریکړو د تطبیق دنده لري
۳. د اجرایه هیائت رئیس به د خپلو کړنو ریپورټ په یوې میاشتي کې مدیره هیائت ته وړاندې کوي.
٤. د اجرایه هیئت رئیس به د کلني بودیجي د تطبیق او لګښتونو دنده لري.
٥. د اجرایه هیئت رئیس نشي کولای د دندې تر پایه په نورو اورګانونو کي کار وکړي
٦. اجرایه هیئت به په خپلو ټولو ورځنیو کړنو کې د ابلمس د قانون ، فیصلو او قانوني اسنادو تابع وی
٧. د اجرایه هیئت غړي به په پریکړو کې په ځانګړي او ټولنیزه توګه د مدیره هیئت په وړاندې مسئول وي

**د۴- برخه:**

د اجرایه هیئت دعمومي ریس د اجرأتو معاملاتو او قانونیت:

د اجرایه رئیس په وړاندېز او دمدیره هیئت په منظوری لاندې مواردو کی اعتبارلري:

۱. دهغو مالي معاملاتو تر سره کول چه د ابلمس په منقولی او غیرمنقولی شته منیو پورې اړه ولري،
۲. پور اخیستنه،
۳. دکریډیټونو اونورو بخششونو لیږدول،
٤. په محکمو کې د دعوو پرمخ بیول
٥. دکورنیو او بهرنیو مؤسسو سره دهمکارئ هوکړه.

**د- ۵ برخه: د عمومي هیئت امتیازونه**

دعمومی هیئت د خپلو د ندو د سرته رسولو په مقابل کې د مناسب معاش اوګټی حق لري .

**اوومه ماده: مالی چارې**

**ح- ۱ برخه: ابلمس له لاندینیو سرچینو څخه تمویلیږي :**

۱. حق الشمول (دداخلیدو فیس)
۲. حق العضویت (دغړیتوب فیس)
۳. بخششیانی (اعاني)
٤. غړیو ته دخدمتونو دبرابرولوپه بدل کی دکار حق (حق العمل)
٥. د دولت لخوا د تاءیید شو تمویل کوونکو مؤسسو د مرستو تر لاسه کول

**ح- ۲ برخه : د مالي چاروتصفیه کول:**

د ابلمس مالي چارې د اړتیا په صورت کې به د یوې بې طرفې شخصی مؤسسی لـه خوا چې له منل شویو معیارنو څخه بر خمن وي، تصفیه کیږي . ددی ډول ادارو (مؤسسو) ګومارل بـه د مدیره هیئت لخوا تر سره کیږي.

ح- ۳ برخه: مالی اوحسابي چاری

١. حسابي چارې: د ابلمس دحسابي چارو اسناد او حسابي کتابونه به د منل شویو ملي او بین المللي معیارونو پر بنسټ اداره کیږي .
٢ . د ابلمس د مالي دفترونو ځانګی به نقدی او جنسي معاملو لپاره د عمومي رئیس پـه وړاندیز اود مدیره هیئت په منظورۍ پرانستل کیږي
٣ . د عمومي هیئت رئیس بـه د یو لوۍ اعطأ کوونکی آمر پـه توګـه د مقیدو پولي صلاحیتونو او محدودیتونو پربنسټ عمل کوي.
٤ . د بانک د مـالي حسابونو څخه بـه راکړه ورکړه د ابلمس دعمومي رئیس او مـالي مدیر په لاس لیک تر سره کیږي.

**اتمه ماده:**

متفرقه حکمونه:

١. د ابلمس بودیجه بـه د قـانون مطـابق د پـلان شـویو کړنـو د سرته رسولو لپـاره مصرفیږي او هیڅ کله به د غړیو تر مینځ نه ویشل کیږي.
٢. انحلالیت: د ابلمس انحلال بـه د عمومي جرګـی دوه پـردری (۲/۳) غړیـو پـه اکثریت سره منظوریږي او د ابلمس دشتمنیو پـه اړه بـه د غیر دولتي مؤسسو د قانون مطابق تصمیم نیول کیږي .
٣. د عمومي جرګی ، مدیره هیائت، اجرایه هیائت او دکمیټو ټول تصمیمونه بـه پـه مر کزي د فتر کې ثبتیږي او د اړتیا پـه صورت کې بـه اړونـدو مراجعو تـه پـه لیکلي ډول نشریږی.
٤. که چیرې ځانګړي اشخاص ، شرکتونه او مؤسسی پر ابلمس دعوه وکړي لومړی پـه مصالحت آمیزه ډول د خبرو اترو او یـا د مینځګړتوب لـه لارې باید حل او فصل شي اوکه چیری بیاهم حل نشي نولانجه باید د محاکمو دقانون لـه لاری حل او فصل شي .
٥. د اجرایه هیئت رئیس بـه د هغو مشهورو جرمونو پـه هکلـه چې پـه ابلمس کې تر سره کیږي اړونده مراجعو ته خبر ورکوي.
٦ . په دی قانون کې بـه د هر راز بدلون او تعدیل په اړه ثبتوونکي ارګان ته باید لیکلي خبر ور کړل شي.
٧ . د ابلمـس د کـارکونکو او مـستخدیمینو دکارپیـل او پـای د افغانـستان د اسـلامي جمهوریت دکار دقانون مطابق تنظمیږي.
٨ . دغـه قانون پـه اتـه مـادیزه فقرو کې د افغانستان د بوزغلی لرونکو ملي ټولنی د عمومی جرګی له خوا ۲۷ جولا ۲۰۰۸ کال کی تصویب شویدي.

## دویمه ضمیمه: د ټولنې د منظور شوی قانون

**د ( ) ولسوالۍ د بوزغلی لرونکو ټولنه**

**لومړی څپرکی**

عمومي قواعد

**لومړی ماده: قانون**

دا قانون د افغانستان د اساسي قانون د ۳۵ مادی دپیروۍ پر بنسټ د افغانستان د (XXX) ولایت د (XXX) ولسوالی د بوزغلی لرونکو د ازادو فعالیتونو د تنظیم لپاره نافذ شوی دی.

**دویمه ماده : ټولنې نوم**

ددغې ټولنې نوم د "(XXX) د بوزغلی لرونکو ټولنه" ده چي په دی قانون کې د "ټولنې" په نامه یادیږي.

**دریمه ماده: د شخصیت فطرت(خوی او خاصیت)**

دا ټولنه د حقوقي شخصیت لرونکې غیر دولتي، غیر سیاسي، نه ګټه کوونکی(غیر انتفاعي) او یوه ازاده مستقله ټولنه ده چي ددی ټولنې د رضا کارانه کارپه پایله کی د (XXX) ولسوالۍ ټولنه رامینځ ته شوی ده، او دا ټولنه خپلې کړنې ددې قانون د مندرجو قواعدو پر بنسټ سرته رسوي.

**څلورمه ماده: ځای (موقیت)**

د ټولنې ځای (XXX) ولایت په (XXX) ولسوالی کې واقع دی. دا ړتیا په صورت کی یی اړونده څانګې کیدای شی د دی قانون مطابق دهېواد په دننه او بهر کې جوړی شي.

**پنځمه ماده: موخې او مقصدونه**

ټولنه لاندی موخې او مقصدونه لري:

۱. دغړو څخه ملا تړ
۲. دحقوقي او حقیقي افرادو (دولت او خلک) په وړاندي دغړو څخه نمایندګي کول.
۳. دبوزغلی د صنعت د پر مختګ په اړوند دولتی ادارو ته سپارښتنو او لازمو نظریاتو وړاندې کول .
٤. د دولتی ادارو(مقاماتو) سره د غړیو د اړونده ستونزو دحل په لاره کی پریکړې کول او له هغوی د حقوقو او فعالیتونو څخه دفاع کول.
٥. دغړیو تر مینځ د همکاری او اړیکو د روحي رامینځ ته کولو ته پراختیا ورکول.
٦. غړیو ته دلازمو آسانتیاو برابرول او د فعالیتونو لپاره د مناسبو شرایطو را مینځ ته کول.
۷ . د غړیو د اصلاح او پرمختګ لپاره د اړتیا وړنظریو او وړاندیزونو برابرول.
۸. د تخنیکي او علمي سطحي د لوړتیا لپاره د مناسبو شرایطو او منابعو رامنځ ته کول.
۹. د بوزغلی د صنعت لپاره د تحقیقاتو او مطالعاتو تر سره کول.
۱۰. د غړیو د تولیداتو لپاره د بازار موندني او په همدې منظور د پلانونو جوړول.
۱۱. د بوزغلی دصنعت په اړوند غړیو ته د معلوماتو راټولول او وړاندې کول، د بهرنیو او کورنیو بازارونو په اړه، د بوزغلیو اړونده ناروغیو ، او دهغوی د تداوی او ساتنی دلارو موندل، اړوند قوانین او مقررات، لازم ارقام او احصائیه او داسې نور.
۱۲. هڅونه، وړاندیز، د ورکشاپونه، روزنیز کورسونه، او د بوزغلی د صنعت د پرمختګ لپاره نندارتونونه، او غونډی جوړول.
۱۳ .د بوزغلی د صنعت د معیاري کولو لپاره هڅې.
۱٤. د ټولنیزو خدمتونو او د ژوند د چاپیریال ساتنې په غونډو کې ګډون
۱٥. د بوزغلی د صنعت د پر مختګ لپاره د کورنیو او بهرنیو پانګو او مالي او تخنیکی منابعو لټول او جذبول.

## دوهم څپرکی
## جوړښتونه او غړيتوب

**شپږمه ماده: غړيتوب**

۱. هر بوزغلی لرونکي چې د بوزغلي په صنعت کې بوخت وي کولای شي د ټولنی غړيتوب تر لاسه کړي.

۲. په ټولنی کې غړيتوب په خپلي خوښې دی. او غړی د ليکلي در خواست په وړاندې کولو اود کلني حق العضويت په ور کولو او د قانون د منلو په صورت کې د ټولنی غړيتوب تر لاسه کوي. دحق العضويت اندازه د عمومي جرګی لخوا ټاکل کيږي.

۳.غړی دمديره هيئت لخوا منل کيږي.

٤. هر غړی په عمومي جرګه کې د يوې رايې حق لري

٥. هر غړي په ټولنه کی د خپل ځان د ټاکنې اويا په ټولنه کی د بل غړي د ټاکنی حق لري

٦. که چيرې يو غړی مړ شي، استعفأ ور کړي او يا د جرم مرتکب شي اويا ددی قانون د قواعدو څخه سرغړونه وکړي په ټولنه کې به خپل غړيتوب د لاسه ور کوي.

۷. د غړيتوب د فسخی تصميم د مديره هئيت لخوا نيول کيږي او د انفکاک مکتوب فوراً غړي يا دهغی کورنی ته ابلاغ کيږي.

۸. که چيرې غړی په خپل انفکاک کی اعتراض ولري دابلاغ د نيټی څخه د درې ورځو په ترڅ کې کولای شي خپل اعتراض ليک عمومي جرګی ته وړاندې کړي. د عمومي جرګی پريکړه په دې هکله ورستی فيصله ده

**۷ ماده: تشکيلاتي جوړښت**

د ټولنی تشکيلاتي جوړښت په لاندې ډول دی.

۱. عمومي جرګه

۲. مديره هئيت

۳. اجرائيه هئيت

**۸ ماده: عمومي جرګه**

۱. عمومي جرګه چې د ټولنو د ټولو غړو څخه عبارت ده د تصميم نيولو تر ټولو لوړه مرجع ده

۲. د عمومي جرګی عادي غونډه په کال کې يو ځل د مالي کال د لمړی څلورمه په پيل کې تر سره کيږي. رابلوونکی(فوق العاده) غونډی د غړيو د ٪ ۱۰ په وړانديز اود ٪ ۲۰ په منلو او يا د مديره هئيت ۲/۳ غړو په وړانديز تر سره کيږي.

۳. د عمومي جرګی په لومړی غونډه کې عمومي رئيس او منشي د غونډې د اداره کولو لپاره ټاکل کيږي. رئيس کولای شي خپل ځان دمديره هئيت د غړي او يا رئيس په توګه و نوموي.

٤. د عمومي جرګی په غونده ٪ ۱ + ٥۰ د غونډی مناسب نصاب تشکيلوي.

٥. د عمومي جرګی د ناستو فيصلي د اکثريت د رايو (۱+٥۰) په اساس رامينځته کيږي اګر که چيري رای مساوي شي هغه خوا چې رئيس رای ور کړي وي، ګټونکي بلل کيږي.

٦. په عمومي غونډه (جرګه) کې رايه ور کونه په ازاد(ښکاره) ډول تر سره کيږي مګر دا چې د غړود يو پر درې برخی (۱/۳) په وړانديز او د ډيرو رايو په پريکړی را يه ور کونه به ښکاره يا پټه اچول کيږي.

**۹ ماده: دعمومي جرګی(غونډی) صلاحيتونه او مکلفيتونه**

د عمومي جرګی صلاحيتونه او مکلفيتونه په لاندې ډول دي

۱. د دی قانون موخی او مقصدونه لاس ته راوړل (په موخو لاس بري)

۲. د مديره هئيت ټاکنه او ګوښی کول

۳. د دندو د ترسره کولو پر مهال دمديره هئيت رهبري کول

٤. د ټولنی د قانون منظوري او تعديل
٥. د غړيتوب او کارکولو(خدمات) د فيس اندازه ټاکل
٦. د کلنی بوديجې او کاري پلانونو او نورو مقرراتو منظوري
٧. د مديره هئيت راپور اوريدل او دهغو موضوع ګانو په اړه د تصميم نيول او غور کول چې د مديره هئيت لخوا وړاندې شوي وي
٨ .د ټولنی د اجرائيوی هيت داجرأتو او د کارکولودطريقی (طرز العملونو) منظوري
٩. د ټولنی د انحلال ، يوځای کول(ادغام) او مختل کولو په اړوند پريکړه کول
١٠. په نورو سازمانو کې د ټولنی د غړيتوب په اړه تصميم
١١. د مديره هئيت د وړانديز پربنسټ د اړتيا په صورت کې ځانګړو مؤقتي کميتو جوړول او دهغوی د لاسته را وړنو ارزونه کول.
١٢. اجرايوي رئيس د هئيت غړی دي مګر د رای ور کولو حق نلري
١٣. په اجنډا کې د نورو شاملو موضوعاتو په اړه د تصميم نيول

**١٠ ماده: مديره هئيت**

١. په عمومي جرګه کې په ازاد، پټه او مستقيمه توګه د غړيو له مينځ څخه اوه تنه د دوه کلونو لپاره دټولنی د مديره هئيت په توګه ټاکل کيږي. د مديره هئيت رئيس د اوو تنو ګټونکو له مينځ څخه د ځانګړي راي اچونې پواسطه دعمومي جرګی)(غونډی) لخوا ټاکل کيږي.
٢. د مديره هئيت د ټاکنو نوي انتخابات کيدای شي يواځی د دوهم ځل لپاره تر سره شي.
٣. دمديره هئيت عادي غونډی په دوو مياشتو کې يو ځل جوړيږي. او د مديره هئيت فوق العاده غونډی کيدای شي د غړيو د اکثريت په وړانديز او يا رئيس او همدارنګه اجرائيه رئيس ته د ليک د استولو په اساس جوړيدلای شي. په غونډوکی دغړود ګډون لپاره داجنډاسره بلنليک يوه اونی مخکی او فوق العاده غونډو ته بلنليک او اجنډا د ناستي څخه درې ورځې د مخه د اجرائيه رئيس لخوا ليږل کيږي.
٤. د غونډی نصاب د غړو د اکثريت په ګډون تکميل کيږي.
٥. د مديره هئيت پريکړي د اکثريت درايو په اسا س نيول کيږي. د رايو د مساويتوب په صورت کې هغه لوری ته چې رئيس رايه ور کړي وي، معتبر ګڼل کيږي.
٦. که چيري رئيس د ځينو معزورتونو له کبله په غونډه کې ګډون و نکړي د غړو له مينځ څخه يو تن د سر پرست په توګه ټاکل کيږي.
٧. د ټولنی رئيس دنورو خلکو په مقابل کی ديو ريښتينی اوحقيقی مينځګړی په توګه دټولنی استاذ يتوب کوي.
٨. رئيس او نور غړي خپلي دندې په رضاکارانه ډول تر سره کوي مګر د هغې کورنيو او بهرنيو سفرونو لګښت د ټولنی لخوا ور کول کيږي.
٩. مديره هئيت عمومي جرګی ته د خپلو لاسته راوړلو لپاره مسئوليت لري.

**١١ ماده: د مديره هئيت دندې او صلاحيتونه**

دټولنی مديره هئيت لاندې مسئوليتونه او صلاحيتونه لري:
١. د عمومي جرګی د پريکړو د پلی کولو دنده لری،
٢. د ټولنی دکارونو دپر مخ بيولو لپاره دلارښوونو برابرول،
٣. د راتلونکي کال د کاري پلان او بوديجې څيرنه او عمومي جرګی ته د هغی وړاندې کول
٤. دکلني بيلانس څيړنه او عمومي جرګی ته دهغې وړاندې کول.
٥. د ټولنی د کلنی بوديجې د استعمال، د مالي او حسابداری د چارو څخه څارنه
٦. د ټولنی د اجرائيه رئيس ټاکنه
٧. د اجرائيه هئيت د کار کوونکو د ټاکنې، استخدام او دګوښه کولو منظوري
٨. د اجرائيه هئيت د راپورونو، مشورو او وړانديزونو او ريدل او پدې اړه تصميم نيول
٩. د عمومي جرګی د ناستو د اجندا برابرول
١٠. د ټولنی د لاسته راوړنو په اړه د راپور ليکل او عمومي جرګی ته دهغې وړاندې کول

۱۱. د ټولنی له اړخه د غړو د انفکاک او غړیتوب منظوري،
۱۲. عمومي جرګی ته د حق العضویت او حق الخدمت د اندازې د ټاکني په اړه وړاندیز
۱۳. د شکایاتونو او ریدل او د هغوی په اړه تصمیم نیول
۱٤. د اجرائیه هئیت او موقتي او فوق العاده کمیټو د راپورونو او ریدل او پدې اړوند پریکړی کول
۱۵. د اجرائیه رئیس لخود د اجرائیه هئیت ا و نورو ټاکل شوو کار کوونکو د معاشاتو ټاکل
۱٦. د دی قانون د قواعدو له مخې د نورو هغو دندو او صلاحیتونو تر سره کول چې په عمومي جرګه کې په ګوته شوی نه وي.

**دولسمه ماده: اجرائیه هیئت**
۱. اجرائیه هیئت عبارت دی له اجرایه رئیس، خزانه دار او یوه سکرتر، اود اړتیا په صورت کی د نورو ځانګړو ځانګو مدیرانو څخه.
۲ .د اجرائیه هیائت رئیس د مدیره هیائت دهغو غړو دجملی څخه چه اړونده پوست لپاره یی د رخواست ورکړی وي د غړیو څخه د رایو داخیستنی په نتیجه کې د سیالی پروسې پر بنیاد د خاصو شرایطو په پام کې نیولو سره ټاکل کیږي. **د مدیره هیائت نورغړي د مدیره هیائت د رئیس په وړاندیز د هم دی لارې څخه د قرارداد پربنسټ ټاکل کیږي.**
۳. د اجرائیه هیئت غړي په ځانګړي ډول د ځانګړو پریکړو او په ټولنیز ډول د عمومي پریکړو مسئولیت لري.
۴. د اجرائیه هیئت غړیو ته د قرارداد مطابق معاش ورکول کیږي

**۱۳ ماده: د اجرائیه هیائت دندې او صلاحیتونه:**
۱. د ټولنی د موخو پلي کول اوسرته رسول.
۲. د ورځینو دندو تر سره کول او د عمومي جرګی او مدیره هیائت د پریکړو پلي کول.
۳. د مدیره هیئت دموافقي پربنسټ د دولتي مؤسسو، خلکو او د نورو افرادو د مؤسسو په وړاندې د ټولنی استازیتوب،
٤. د ټولنی د اداري مکتوبونو لیږل او را لیږل،
٥. د ټولنی دکارونو د لا ښه والي لپاره د ټولنی د مدیره هیئت لپاره د وړاندیزونو او مشورو وړاندې کول.
٦. مدیره هیئت او د ځانګړو خصوصی کمیټیو لپاره د مقرراتو د مسودی طرح کول او برابرول او د شرحې وړاندې کول
۷. د مدیره هیئت غونډو ته د اجنډا برابرول او د دغو غونډو پرمخ بیول
۸. مدیره هیئت ته د لاسته راوړنو د راپور وړاندې کول
۹. د نورو هغو دندو تر سره کول چې د مدیره هیئت له خوا هغوی ته سپارل کیږي.

**دریم څپرکی**
**د پای قواعد**

**۱۴ ماده: د ټولنی مالي سرچینی**
ټولنه د لاندې سرچینو په واسطه تمویلیږي:
۱. حق العضویت (د شاملیدو فیسونه)
۲. حق الخدمتونه (دخدمت یا کار فیسونه)
۳. بښنی او د خلکو او مؤسسو مرستي

**۱۵. ماده: مالي چارې**

۱. دټولنی ټولی مالی او حسابی چاری په دوارو نقدي او جنسي راکړی ورکړی د هیواد په اوسنی رایج او عام سستم سره په روښانه توګه برابریږي
۲. د ټولنی مالي کال د هجری شمسي کال دی.

**۱۶ ماده: په قانون کی تعدیل**

د دی قانون مواد دعمومی جرګی( غونډي) د لسو په سلوکی غړیو په سپارښتنی او د ټولی دوه پر درې (۲/۳) غړیو د رایو په اکثریت سره په عادي غونډو کې تعدیلیږي.

**۱۷. ماده: د ټولنی انحلال ، یوځای کول او ګډیدل**

۱. عمومي جرګه(غونډه) ، د غړیو د رایو دری پر څلورمي(۳/۴) برخي اکثریت کولای شي د ټولنی د انحلال، ادغام او ګډیدلو په اړه پریکړه وکړي.
۲. کــه چیري د دی مادې د لومړۍ فقرې له مخې پریکړه مثبته وي عمومي غونډه د ټولنی د حسابونو د پاکولو لپاره ځانګړې کمیسون ټاکي. له انحلال څخه پرته د ټولنی پانګه او شتمني ادغام شوي او ګډه شوي مؤسسي ته لیږدول کیږي. مګر د انحلال په صورت کې د ټولنی پانګه او شته مني یوي بلې مؤسسي ته چې یو شان موخی لري، لیږدول کیږي. که چیرې دا ډول مؤسسه موجود نه وي د عمومي جرګی د لازم ګڼلو له مخې د یو بلی ټولنی د جوړلو لپاره چې ټولنیز خدمتونه وړاندې کوي، لیږدول کیږي.

**۱۸ : د ټولنی مهر او نښان**

ټولنه یو خاص نښان لري چې د ټولنی د عمومي جرګی(غونډی) له خوا به تصویب شوی وي او مهر یې د مدیره هیئت د پریکړی پر اساس د رئیس له خوا ساتل کیږي.

**۱۹ ماده : د قانون منظوري**

د ټولنی د قانون دا طرح په دریو فصلونو او ۱۹ مادو کې د افغانستان د بوزغلی لرونکو د ټولنی د بنسټ ایښودونکو له خوا چې ۱۵غړیي در لودل جوړاو د بوزغلی لرونکو دعمومي جرګی(غونډی) لخوا تصویب او د ثبت وروسته به نشر ته وسپارل شي.

**د مدیره هیئت د غړیو نومونه او لاسلیکونه**

| ګڼه | نوم | دنده | لاسلیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | | | |
| ۲ | | | |
| ۳ | | | |
| ٤ | | | |
| ٥ | | | |
| ٦ | | | |

## دريمه ګڼه ضميمه: دافغانستان دبوزغلي لرونكودملي سازمان(ابلمس) دونو دتصديق سيستم

**سريزه**

بوزغلي لرونكي كولاى شي چې خپل كاروبار په واسطه خپلو اخيستونكو يعني بڼوالو ته د ګټورو بڼونو د پراختيا په لاره كي مرسته وكړي. بڼوال كولاى شي د خپلو بڼونو صنعت ته په لاندې ډول ښه ګټه ورسوى:

- په ځانګړي ډول دبڼ دځوند په پيل كى(ځوان بڼ) د بڼ د حاصلاتو زياتول.
- د هغو وراټيو روزل چې مخكى يا داصلي موسم څخه وروسته پخيږي ترڅوپه بازار كى لوړ قيمت لاس ته راوړي.
- دهغو ميوو روزل چې د ځانګړى بڼى ميوه توليد كړي چې پيرودونكي دهغى درانيولو لپاره په لوړه بيه وركولو راضى شي. دا ځانګړى بڼي ميوه كيداى شي رنګ، اندازه، بوى، جوړښت، شكل ، زړى (مندتى) نه درلودل، د پوستكي په لرى كولو كې اساني، دپوستكي ډبل والى، او نورو پورې اړوند وي.
- د هغو وراټيو روزل چه دهغوځانګړو شكلونو درلودونكى وي چه د سوداګردغوښتنى سره برابر وى، لكه د زيرمه كولو د مودى اوږدوالى، او د را ټولولو د مقاومت وړتيا او داسى نور .
- د هغو ډولونو روزنه چې توليد يې لږ لګښت ولرى؛ د بيلګى په ډول هغه ډولو نه چې د ناروغيو او آفتونو په وړاندې كم حساسيت ولري بناً د غه ډول لږ ضايعات لري او د مخنبوي لپاره لږو لګښتونو ته اړتيا لري؛. او يا هغه ډولونه چې ټيټ قد و لري او د اداره كولو لپاره لږو كاركروته اړتيا لري.

دغو موخو ته د رسيدو لپاره، لازمه ده چې د ميوه لرونكو ونو د ښه كيفيت نيالګي كښينول شي. ددى ډول نيالګيو كښينول بوزغلي لرونكوته دا فرصت برابروي چه بڼ لرونكو ته د ښه كيفيت د نيالګيو په برابرولو سره خپله ګټه زياته كړي، چې دا ګټى دادي:

- پيوند د نيله بوټى په داسى ورايټى باندى لګول چې دروزونكو، سوداګرو او اخيستونكو لپاره مناسب وي
- نوع اصل ته ورته
- د تاوان رسوونكو ناروغيو او آفاتو څخه په امان
- په مناسبو مورنيو نيله بوټو روزل شوى.
- په سم ډول روزل شوى.

د ۲۰۰۹ كال د فبروري/ مارچ په مياشت كي د بڼوالى د پرمختيايى پروژه له ۱۰۰۰۰(لسو زرو) څخه زيات ثبت شوي مورنى وني، د سخت زړو ونو بهترين كلونونه او ډولونه (بادام، زر دالو، شفتالو او آلو) په افغانستان كي د مورنى ونو ۲۶ بوزغليو ته ويشلي دي. دغه د مورنى ونو بوزغلى د ۲۲ د بوزغليو ټولنو پورې چې د افغانستان د بوزغلى لرونكو دملي سازمان (ابلمس)غړي دى، وويشل شو. دافغانستان د بوزغلى لرونكو ملى سازمان (ابلمس) اوغړيو توافق وكړچه يو ويريا د تصديق يوه معياري طريقه به رامينځ ته كوي چي په يوه مناسب وخت كي به د يو قانونى تصديق په بڼه رامينځ ته شي

د مورنى ونو د بوزغليو جوړول په ملى سطحه د ميوه لرونكو ونو د طرحي د برابولو او پراختيا په لاره كي يو لوى او غټ ګام دى تر څو د كښت با كيفيت مواد د افغانستان د بڼوالو په واک كي ور كول يقيني كړي. په ۲۰۱۰ م،كال كي به د غه مورنى ونى د لوړ كيفيت د پيوندي موادود توليد لپاره استعمال شي. دغه مواد به د دقانونى هيئتانو اومعاينه كونكو له پلټني وروسته، كيداى شي د ا مواد د تصديق لپاره په كار واچول شي او د تصديق شويو ونو

د تولید لپاره چې د ۲۰۱۲ کال په پیل کې به د بوزغلیو د صنعت په واک کې ور کړل شي (دا امکان لري چې څو مخکني فرمایشونه د وخت دمخه تر لاسه شي).
پدې سند کې د میوه لرونکو ونو د تصدیق یو موقتي سستم چې د مورنیو ونو او بوزغلیو او دهغو نباتاتو تصدیق چې دوی یې تولیدوي، د تصدیق د ثبت اساس تشکیلوي، رامینځ ته شي.
د مورنیو ونو دبوزغلیو او دهغوی د مورنیو ونو پلټنه او ثبت د ۲۰۰۹م، کال د مارچ له میاشتې څخه پیلیږي او وروسته تر۲۰۱۰ م، کال پورې به دمورنیو ونو د تصدیق شوو پیوندی موادوڅخه په بوزغلیو کی هغه تولیدیدونکي نیالګی هم ثبت شي تر څو نیالګي و کولای شي د تصدیق سستم ته ور داخل شي.
د تصدیق دا سستم به دمیوو د صنعت پرمختګ ته په دوامداره توګه ځواب ووایي. د بیلګې په توګه، د ۲۰۰۹م، کال د اپریل په میاشتې کی به د بنوالی د پرامختیایی پروژی ترمشری لاندی، د آغاخان بنیاد به د وایروس د شاخص له پلوه د ازمایینت شوو بنیادي ونود تولید په پروسی پیل وکړي. ددې پایله به داوي چې بالاخره به دویروس له لحاظه تصدیق شوي بنیادي ونې د مورنیو ونو بوزغلی لرونکو په واک کی ور کړل شي. دغه د وایرس د شاخیص څخه د ازمایینت شوي او تصدیق شوی مورنی ونې به د نورو ونو په پر تله د انتاني ویروسونو د لګیدو د احتمالی خطر له آمله د لری والي ډیری فاصلی ته اړتیا ولري. د تخمي ونو، نیله بوټو، ریشه لرونکي تنو او نورو نباتی مواد لپاره به اضافي معیارونه معرفي شي.
په پای کی به د باغداری د پرمختیایی پروژی دغه نوی قواعد د دی نوی تصدیقوونکی طرح سره مسؤلو ادارو ته وسپارل شي.

**تعریفونه:**

(الف) "جدا ـ ډول" معنی یی هغه نبات دی چې په ثبت یا تصدیق کې د هغی ورایټیی یا انتخاب څخه چې د درج کولو درخواست یی شوی وي، توپیر ولري.
(ب) "ثبت شوی بوزغلی" د هغه بوزغلی څخه عبارت دی چې د ثبت لپاره یې درخواست ور کړی وی او د ثبت ګڼه یا د بوزغلي کود یې ترلاسه کړی وي.
(ج ) "مواد" نبات اوکرونکی موادو لکه مورنی ونو، تخمي ونو، زراعتي تخم، نیله بوټو، پیوند، قلمو او داسي نورو ته ویل کیږي.
(د) " بنیادي ونه " معنی یی هغه یوه ونه ده، چې د بنوالی د پرمختیایي پروژې لخوا روزل شوی او ساتل شوی او د تکثیری موادو لومړنی سرچینه وي.
( ه) " مورنی ونه " معنی یی هغه د مورنی ونو بوزغلی دی چې د یو وړاندیز په واسطه دیو تصدیق شوی نیالګي د روزنی لپاره دیو تصدیق شوی ساین د لرګی د منبع په ډول ساتل شوی وي.
(و) " د مورنی ونو بوزغلی" یوه شخصي بوزغلی دی چې ثبت شوي مورنی ونې روزي او تولیدوي.
(ز) "تصدیق شوي نیالګي" معنی یی هغه ځوانه ونه ده چه د ثبت شوی زیرمی څخه تکثیرشوی او ددې مادې د شرایطو په اساس تصدیق شوی وي.
( ح) " په ویروس ککړ" معنی یی د یو وایرس په واسطه ککړ یا د وایرس علایم لرونکی او یا د یوې وایروسی ناروغی د نښو در لودونکي وي.
(ط ) "د ویروس له پلوه ازمایینت شوي نیالګي" له هغه نیالګي څخه عبارت دی چې د مختلفو نښانی کوونکو نباتاتو یا د نورو معیاري طریقو پواسطه د ویروسي انتاناتو له اړخه از مایل شوی وي.
(ی ) "د شاخص نبات" یو لرګین یا واښه ډوله نبات دی چې دوایروسونود تشخیص لپاره کارول کیږي.
(ک) "دکلونی د نیله لرونکي بستر"عبارت د هغو ثبت شوو کلونی ونو څخه تکثیر شوی نالیدونکی ونی دي چې یواځی د نیله بوټو د غیر زوجي تکثر لپاره کارول کیږي.
(ل) "اصلي نوع اصل ته ورته ډولونه" معنی یی هغه نبات دی چې د ارثی لحاظه دهغه کلون سره و رته والی ولري چې د ثبت یا تصدیق لپاره لست شوی وي.

## ۲. د افغانستان دبوزغلی لرونکو دملي سازمان دمیوه لرونکو ونو دتصدیق دسیستم پیژندنه پلانول

د افغانستان د بوزغلی لرونکو ملی سازمان د تصدیق له سستم څخه موخه (طرح کول) داده چي سالم او تصدیق شوي نیالګي چي د یو شان والي او صحت له پلوه ډاډمن وي، د بڼ والو لپاره وړاندې کړي.

**دا سستم څرنګه کار کوي؟**

هغه مواد چي په دی سستم کې شامليږي بايد د يو پيژندلي ارثي خط سره تړاو ولري. ټول مواد بايد په ځانګړی ځای کي او د نورو ونو څخه لری تر خاصو شرایطو لاندې وروزل شي. د ودی په دوران کې لږ تر لږه یو ځل باید د مسلکي کسانو لخوا وازمایل شي. معمولاً د لابراتوارونو د تجزیی د اسانتیاو دنه موجود یت له کبله په نورمال ډول د کتنی په توګه ترسره کیږي.

لومړی درجه مواد د ډېرو جدي شرایطو لاندې تولیدیږي. چی کیدای شی وروسته په یو یاځو درجو تکثیر شي تر څو د سوداګریزو بڼ والو په واک کې ور کړل شي.

**تصدیق:**

که چیري نباتات د تصدیق لپاره داخليږی او د ازمايښت ديو يا څو پړاونو څخه وروسته څرګند شي چي نباتات سالم او ټول اړونده شرايط پوره کوي، نو يو شمير تصديقونه به د هغوی لپاره صاد ريږي چي د اعتبارد يوی تعين شوی مودی درلودونکی به وي.

**د تصديق شوي موادو پيرودل څه ګټه لري؟**

تصديق شوي مواد د دغی طرح له مخي ديو تصديق نامي (تصديق کونکی ليبل) بواسطه صادريږي .چې دهغې د سمې روغتيا دحالت اود هغی دډول د ريښتينوالي تائيد کوي. دبنوالی پرمختيايي پروژه نشي کولای تصديق کړي چي د دغې طرحي له مخي ټول تصديق شوي نيالګي د آفتونو او ناروغيو څخه پاک دي ـ هيڅ ډول عملي، او سوداګريزه تصديق ددې تضمين نشي کولای. البته، تصديق شوي نيالګي تر جدي شرايطو لاندې روزل کيږي چي د نيالګيو د صحت او سلامت په اړه د پام وړ ډاډ ورکوي.

## ۳. د ثبتولو او تصديقولو لپاره شرايط

**عمومي**

هغه بوزغلی لرونکی چي غواړي پدې طرح کې ور ګډ شي بايد د دبوزغلي لرونکو ديو ثبت شوی ټولنی غړی وي، او دا بوزغلي لرونکی ټولنه بايد د افغانستان د بوزغلی لرونکو د ملي سازمان غړيتوب ولري. بوزغلی لرونکی ټولنه بايد يوه د غوښتن ليک فورمه (د دريمي ضميمي له مخې) د خپل بوزغلی د ثبت لپاره وړاندې کړي.

بيا، د بوزغلی د ثبت د تصديق د ترلاسه کولو څخه وروسته(پنځمه ضميمه)، بوزغلی لرونکي بايد دی طرحی ته د ننوتولو په خاطر په خپلو بوزغليو کی دتوليد شوو موادو يا د نياليګو لپاره (شپږمه ضميمه) يو غوښتن ليک وړاندې کړي. لازمه نده چي د بوزغلی ټول مواد دی د تصديق لپاره شامل شي، مګر ټول شامل مواد بايد د طرحی دټولو معيارونو سره برابروي او له هغو موادو څخه چي په دی طرحه کي شامل نه دي بايد په روښانه ډول توپير ولري.

کله چي دبنوالی پر مختياي پروژه لاس ليک شوي فورمه يوځل تر لاسه کړي،کيدای شی چی هيڅ يو ګډون وال به د کال تر پايه ونه ويستل شي. ددې طرحی د شرايطو څخه پرته (د مسئوليت د لری کولو متن ته په شپږمه برخه کې مراجعه و کړی) د بنوالی د پرمختيايي پروژې او کار کوونکوپه برخه کی د تصديق شوو ونو او نيالګيو له پلوه هيڅ راز تضمين يا دضمانت تعهد په دی پروژې نه وارديږي.

**د غوښتنلیک ورکوونکي مسؤلیتونه**

د غوښتنلیک ور کوونکی بوزغلی خاوند به دا مسؤلیت لری، چی دبنوالی دپرمختیایی پروژی لخوا د موقعیت د انتخابولو اود هغو ثبت شوو نباتاتو ښه ساتنه چی ددی طرحی لاندی روزل کیږي، تصویب کړي. غوښتنلیک ور کوونکی باید دبنوالی دپرمختیایی پروژی د هغی طرحی مطابق دهغو نباتاتو د پیژندنی مسؤلیت لري، چی په دی طرحه کی شامل کړی شوی دی.

**د مورنیو ونو معیارونه**

الف) هر کرنیز موقعیت باېد دبنوالی د پرمختیایي پروژی د تائید وړ وي او په یوې سالمې ساحې کې د سالمی ودی لپاره او لړترلړه د ساري ناروغیو او آفاتو له خپریدو څخه لری وي.

ب) د خړوبولو لپاره اوبه باېد ککړی نه وي (له هغه اوبو څخه چي دوه واریی یی جریان موندلی وي تر هغه وخته باید دهغی څخه ګټه وانه خستل شي ترڅو پاکی یا ضد عفوني شوی نه وي). له هغو پټیو څخه چي بوزغلیو او بڼونو ته اوبه ورته راځي، باید مخنیوی وشي

ج) د خاورو څخه د لګیدونکو انتاني خطراتو د کمولو په خاطر باېد دعین جنس میوه لرونکي نباتات په تیرو کرل شوو نباتاتو کی شامل نه وي.

د) هغه نیالګي چې په دی طرح کې شامليږي باید د ودی په ښو شرایطو کې وروزل شي او آفتونه یی په ښه ډول کنترول او اداره شي. د کرني، اوبو لګولو، کرنیز عملیات او نور کرنیز عملیات چی د ناروغیو د خپریدو مخنیوی کوي،باید په اړه تصمیم ونیو ل شي.

هـ) سامان الات او مواد باېد ضد عفوني شي، یواځی د اړونده نیالګیو(نباتاتو) لپاره تری ګټه واخستل شي د مختلفو کلونو د پریکولو په مینځ کی باید قیچی ضد عفونی شي.

و) بیل ډولونه باېد وجود ونلري (که چیري جدا- ډولونه په نظر راشي نو باېد لری کړای شي)

ز) مورني وني باېد له هغو ثبت شوو کلونو څخه چی د بنوالی پرمختیایی پروژې او یا د نورو مؤسسو لخوا ساتل شوی یا منظور شوی وي، سرچینه ولري.

ژ) یوه راجسترشوی مورنۍ ونه باید دعین جنس دغیر ثبت شوی نیالګي څخه د پنځو مترو ه په نژدی واټن کې کښینه نول شي. د مورني ونو په یو ثبت شوی بلاک کې یوازی ثبت شوو نیالګیو اینسودلو کېدلوته اجازه ورکول کیدای شي او بس. د تصدیق شو مورنېو ونو هغه ډولونه چي صحت او سلامت يي تصدیق شوي نوي باېد له هغوی څخه د تکثر په چارو کې ګټه وانه خستل شي.

ط) د مورنیو ونو د مختلفو کلونو تر مینځ په عین قطارکی لږترلږ د یوې ونې په اندازه فاصله موجوده وي (دبیلګی په ډول که چیري وني له یو بل څخه په ۱،۲ مترو په فاصله جدا والی ولري هغه وخت باېد د ۲،٤ متره واټن موجوده وي)

ی) باېد د هریو مورنیو ونو د ورایټی/ کلون دلیکی (قطار) په پیل کی دقطار شمیره او د کلون ګڼه په یو لیبل کی وښودل شی. د هر نوی قطار په پیل کې هم باېد علایم نصب کړای شي.

ل) ټولی مورنۍ وني باېد په یو ساده نقشه کې ثبت شي چي د قطارونو په منځ کي د هغوی هویت او مشخصات، قطار، شمیره د قوري ډول او نورد پیژندنی علایم څر ګند شي.

م) مورنۍ ونې باېد داسې کښینول شي چې دهغوی د څانګو او کلونو تر منځ لازمه واټن موجوده وي چي مختلف کلونونه یو د بل د پاسه قرار و نلري

ن) هره مورنۍ ونه به دایمي شمیره ولری. دهری مورنۍ ونی ثبت کیدل باید په داسی طریقه وشی چی د تصدیق کوونکو مقاماتو(د ابلمس- د بنوالی پرمختیایی پروژی) لخوا منظور شوی وي.

س) مورنۍ ونی باید په داسی طریقه کښینول شی او ساتنه یی وکړای شی چی دمختلفو کلونو څانګی یوبل پټی نه کړي.

ع) د مورنیو ونو څخه د یو متر په فاصله کې هرزه بوټي یا مینځنی نباتات باید شتون ونه ولري. د مورنیو ونو د بوزغلیو د بلاک څمکه او د ٥ متره شا وُخوا واټن باېد په دوه طریقو یعنی پرته دکرلو و ساتل شي او یا هم د تاید وړ د یو مناسب کنترول کیدونکی نباتی پوښښ لاندې ونیول شي.

ق) ددي ډاډ د حاصلولو لپاره چي پلټني د طرحی مطابق تر سره شوي د کاري ساحوډ فعالیت په اړه باېد دقیق معلومات برابر شي بوزغلی لرونکي باېد د تولید دی طرحی ته د ننوتلو څخه د مخه دبنوالی پرمختیاي پروژې ته خبر ور کړي تر څو د کار د تر سره کولو د مخه دکار منظوری واخیستلای شي .

ک) په مورنیو تصدیق شوو ونو کي باید هیڅ راز پندک پیوند، یا ښاخ پیوند ونه شي.

ف) غوټې مخکي لدې چي پرانستل شي باید لری کړای شي.

**دمیوه لرونکو ونو(نیالګیو) لپاره د تصدیق معیارونه**

الف) د کرنې ساحه باېد دبڼوالی د پرمختیایي پروژې لخوا منظور شي او لړترلږه په داسي ځای کې باید موقعیت ولري چي د نبات د ښې روغتیا د ودی لپاره مناسب وي او لګیدونکو ناروغیو او آفاتو دخپریدو د خطر څخه په امن وي.

ب) د خړوبولو لپاره اوبه باېد ککړی نه وي (له هغه اوبو څخه چي دوه واریې یې جریان موندلی وي ترهغه وخته باید دهغی څخه ګټه وانه خستل شي ترڅو پاکی یا ضد عفوني شوی نه وي). له هغو پټیو څخه چي بوزغلیو او بڼونو ته اوبه ورته راځي، باید مخنیوی وشي.

ج) د خاورو څخه د لګیدونکو انتاني خطراتو د کمولو په خاطر باېد دعین جنس میوه لرونکي نباتات په تیرو کرل شوو فصلونو کی شامل نه وي.

د) هغه نیالګي چې په دی طرح کې شامليږي باید د ودی په ښو شرایطو کې وروزل شي او آفتونه یې په ښه ډول کنترول او اداره شي. د کرنې، اوبو لګولو، کرنیز عملیات او نور کرنیزعملیات چې د ناروغیو د خپریدو مخنیوی کوي،باید په اړه یې مناسب احتیاطي تد بیرونه ونیو ل شي.

هـ) سامان الات او مواد باېد ضد عفوني شي، یواځی د اړونده نیالګیو(نباتاتو) لپاره تری ګټه واخستل شي د مختلفو کلون د پریکولو په مینځ کی باید قیچی ضد عفونی شي.

و) بیل ډولونه باېد وجود ونلري (که چیري جدا- ډولونه په نظر راشي نو باېد لری کړای شي)

ز) ثبت شوي نیالیګي باېد په معینه اندازه کې کښینول شي تر څو دهغوئ هویت وساتل شي د مختلفو کلونو دنیالګیو ترمینځ واټن په عین لیکه کی باېد (لږترلږ ٨٠ سانتي متره) وجود ولري.

ح) ټول تصدیق شوي نیالګی به د پیوندی برخی (ساین) او نیله بوټي د منبع په توګه وکارول شي. دا معلومات باید دبوزغلي په نقشه او لوحه کی وښودل شي.

ط) کیدای شي چي په نیله بوټي دوهم وارپندک پیوند یا ښاخ پیوند نه شي، پرته دهغه تصدیق شوی مورنی ونی د منبا بع څخه چه په ابتدأ کی ورڅخه ګټه اخیستل شوی وی د نیله بوټي لپاره دوهم وار ترینه کاراخیستل کیدلای شي.

ی) د میوو هغه نیالګي چې د تصدیق لپاره روزل کیږي باېد په هغو نیله بوټوچی دبڼ والی د پر مختیایي پروژې لخوا منظور شــوي، وروزل شي، په راتلونکي کی به نیله بوټي د ثبت شوو تخمی ونو اویا د ثبت شوو نیله لرونکو تنو څخه منشأ واخلي؛ ترهغه وخته بیا کولای شو، د تصدیق لپاره دمیوه نیوونکو ونو نیالګي په نا تصدیق شویو نیله بوټو ورزو.

ک) د پیوند مواد (زخی یا غوټی / شاخچه) باېد له هغو ثبتو شویو ونو څخه چي د مورنیو ونو په ثبت شوو بوزغلیو کی روزل شوي وي، سرچینه ولري.

ل) د مورنیو ونو څخه د یو متر په واټن کي هرزه بوټي یا مینځنی باید شتون ونه ولري. د مورنیو ونو د بوزغلیو د بلاک څمکه او د ٥ متره شا وُخوا فاصله باېد په دوه طریقو یعنی

پرته دکرلو و ساتل شي او یا هم د تاءیید وړ دیو مناسب کنترول کیدونکی نباتی پوښښ لاندې ونیول شي.
م) ټولی تصدیق شوی ونی باید د طرحی د ټولو شرایطو سره مطابقت ولري، د خرڅلاو پرمحال بايد په لازمو تجارتي طریقو سره بسته بندي او په داسې یو یا دووچاپ شوو لیبلونو وپیژنل شي چی په هغی کی کلون، نیله بوټی، او تصدیق شمیره په واضح ډول لیکل شوی وي چې په هغه کې د تصدیق دثبت شمیره او ډول په واضح ډول لیکل شوی وي.

**د انتخاب وړتیا:**
د میوه لرونکی ونی هرډول، کله چې تصویب شي، په دی طرح کی دبرابرو شوو اسنادو مطابق د داخلیدو مستحق دي.
د مورنیو ونو په بوزغلی کې د یوی مورنۍ ونی د تصدیق لپاره، دهغوی دکښینولو په محال باید تصدیق کوونکي مقاماتو ته باید خبرورکړل شی چی غوښتونکي غواړي خپل ونې د تصدیق په دې طرحي کې شامل کړي، اوغوښتنلیک بايد لږ ترلږ یو کال دمخه د ونی د تکثیری موادو څخه د کټې اخستنې لپاره جوړ او خبر ور کړل شي.

**٤. دهغو نباتاتو پلټنه چې د نباتاتو د تصدیق د پروسی لپاره داخلیږي کړنلاره**
د پلټنی او ازمایښت کړنلاره چه په طرحه کی توصیه شوی کیدای شي چه یوازی د بڼوالی د پرمختیایی پروژی یا د هغو اشخاصو له خوا چی د بڼوالی د پرمختیایی پروژی لخوا ورته دنده ورکړل شوی، تر سره شي، او په داسې ډول به پرمخ بیول کیږي چې پر وخت باندی د بڼوالی د پر مختیایي پروژې له خوا تائید شوی وي.
په هر وده یز فصل کی باید دهغو مورنیو ونوچې د تصدیق شوو پیوندي موادو(غوټې یا پیوند) دتولید لپاره استعمالیږي، لږترلږ یوکتونکی پلټنه تر سره کړای شي.
په لومړني وده یز فصل کی باید دهغو نیله بوټو چې د زخو یا ښاخونو دتولید لپاره چې د تصدیق شوو نیالګیو لپاره استعمالیږي، لږترلږ یوکتونکی پلټنه تر سره کړای شي. د بڼوالی د پر مختیایي پروژې د غوښتنې له مخې هغه ټول نامطلوب نیله بوټی باید د پیوند یا ښاخو څخه دمخه لری کړی شی. د پیوند یاښاخو په تعقیبی فصل کی د ودی په دوران کی لږ تر لږ با ید د نیالګیو دوه ځل پلټنه تر سره کړای شي.
په راټلونکي کې به دوایرس د شاخیص څخه ازمویل شوی نباتی مواد موجود وي او د وایروس دپلټنی خدمتونه څخه ګټه کیدای شی چی دهغونباتاتو لپاره چی د تصدیق طرحی ته داخلیږی، واخستل شي.
که چیرې نباتات د ثبت شوو نیالګیوڅخه تکثیر شوي وي او دا څرګنده شي چی وایروسي یا نوری وایروس ته ورته ناروغې ولري او یا ددې طرحې نور شرایط پوره نکړي، نو تصدیق کوونکی مقامات به د ټولو یا دنیالګیو د یوی برخی د تصدیق څخه انکار وکړي.
که چیرې نباتات د تصدیق طرحی ته داخلیږي او د دوو یا زیاتو پلټنو په پایله کې څرګند شي چې نوموړیو ونو د طرحې ټول شرایط پوره کړي یود ثبت شمیره لرونکی تصدیق به ورته صادریږي. تصدیق به د صادریدلو دنیټی څخه وروسته د اعتبار یوه ټاکلی موده د مارچ تر۳۱ پوری ولري، تر هغه وخته چې تصدیق شوي مقامات د دی طرحی د څلورمې فقرې د مندرجاتو له مخې دغه تصدیق، تعلیق یا رد نکړي.

**لیبل وهل او پیژندنه**
*لیبل وهل.* تصدیق کوونکی لیبلونه به د تصدیق شوو نیالګیو، پیوند، قلمو، او تخم چی د طرحی شرایط پوره کوی، د پیژندنی یو رسمي تصدیق وي. ثبت شوی بوزغلي به قانونی تصدیق کوونکو لیبل برابرونکو ته د ټولو برابرو شوو تصدیق کوونکو لیبلونو لپاره پیسی ادا کوي. د صلاحیت لرونکو تصدیقی نهادونو په واسطه د ټاکل شوی لګښت پر بنسټ به دا پیسی مجرأ کیږي.

*هویت یا پیژندنه*. یو شخص چه تصدیق شوي میوه نیوونکی ونی یا نور تصدیق شوي تکثیري مواد پلوری دلیبل لرونکو تکثیري موادو د پیژندنی او ددی خبری د یقینی کولو چی تصدیق شوي تکثیري مواد دطرحی شرایط پوره کوي، مسؤل دی. د لیبل د صادرولوصلاحیت لرونکی شخص به د تولید شوو میوه لرونکوونو د تصدیق شوو تکثیري موادو د ټولو ډولونو تولید، خرڅلاو اود ثبتولو ارقام راټولوي او د تصدیق د طرحی د اړتیا لپاره به یی ساتي.

**د تصدیق شوو نباتاتو(نیالګیو)/کرنیزو موادو داختیار سوابق**

بوزغلی لرونکی باېد د تصدیق شوو تکثیری موادو(پیوند، قلمو، نیالګیو، تخمونو د تصدیق کوونکی لیبل سره) د تصدیق کوونکو مقاماتو په واسطه د برابرشوی ثبت کیدونکی کتاب کی د خپلو ارقامو (مثلاً خرڅلاو او یا دهغوی پخپله ګټه اخیستنه) د سوابقو ساتلو ته اړتیا لري. د ثبت کتاب باید د تصدیق کوونکو مقاماتو د غوښتنی په وخت موجود کړاي شي. د سوابقو ارقام باېد د مصرف د نیټي ، اخیستونکی (د بوزغلی کوډ) دمیوې د ډولونو ، انواعو (دکلون د شمېری ) د لیبل د شمېر او مقدار څرګندوی وي.

**اجراء کول (جاري کول)**

ردول، ځنډول یا باطلول

د هر یو لاندې شرایطو له مخې د نباتاتو دیوی برخی یا د کرنی د ټولو موادو تصدیق کیدای شي چه رد، تعلیق یا باطل شي:

الف) ددی فصل (څپرکی) لازم شرایط نوي مراعات شوي.

ب) که څرګنده شي چې نیالګي په وایروسي ناروغۍ اخته او یا هم د جدا ډول څخه دی.

ج) د وایروسي ازموینې په ترڅ کې څرګنده شي چې تصدیق شوي نیالګی په وایروس اخته دی.

د) نیالګي په شدیده توګه په آفتونو یا ناروغیو سره اخته وي.

هـ) د کوم دلیل له مخې د نیالګي پیژندنه د شک دلاندی وي او یا په ښه توګه ساتل شوی نه وي.

و) د تصدیق کولود شمېرې څخه نا وړه ګټه اخیستل شوی وي.

ز) ددی طرحی د لاندی د تولید شوو کرنیزو موادو حالت (ډول) په ښکاره ډول دطرحی سره سمون ونلري

٥٣

**٦. غوښتنلیک او فیس**

**د یو بوزغلی د ثبتولو لپاره غوښتنلیک**

دبوزغلي د ثبت لپاره غوښتنلیک هر کال د جنوري د ٣١ نېټې څخه دمخه با ید جوړ شی (دریمي ضمېمي ته مراجعه وکړئ). د بوزغلي د ثبتولو څخه وروسته به د ثبت یو تصدیق نامه چې شمېره لري د بوزغلي دثبت له شمېرې سره ترلاسه کوي .(٥ ضمیمي ته مراجعه وکړئ)

**په دې سستم کې د شاملیدو لپاره د نیالګیو او یا کرنیزو موادو د ثبت لپاره غوښتنلیک**

د نباتاتو( مثلا نیالګي) یا کرنیز مواد (مثلاً کرنیز تخم ، دپیوند زخی او نیله بوټی) په کال کی یو ځل د جون له ٣٠ د مخه تر سره کېږي. د غوښتن لیک فورمه په ٦ ضمیمه کې ښودل شوي ده.

غوښتنلیک ورکوونکی بوزغلی به ددې طرحې دعملیاتو لپاره اړونده ټول معلومات برابروي. او هغه سړی/ښځه به له تصدیق کوونکو مقاماتو سره اړونده پریکړه کوي چې تصدیق کوونکي مقامات له هرې ونې څخه چې وغواړي دازماېښت لپاه د پیوند مواد ترلاسه کولای شي.

**فیس**

دبوزغلی د ثبت کولو سره سره به د تکثیری موادو یا نیالګیو د تصدیق لپاره غوښتنلیک ورکوونکی مکلف دی چی هغه فیس اداکړي چی د تصدیق کوونکو مقاماتو لخوا ټاکل شوی دي.

**۷. د مسئولیت رفع کول:**

ددی طرحی لاندی د ونی تصدیق شوی لیبل دا څرګندوي چی د تصدیق شوی ونی نیالګی یا پیوندی مواد یا نیله بوټو ټول هغه معیارونه او کړنلاری چی تصدیق کوونکو مقاماتو ښودلی دي، پوره کړي دي.

د بڼوالی پر مختیایي پروژه له هر ډول څرګندونو یا ضمانت کولو، د یو څه محدودیتونو او ضمانتو په شمول، د خرڅلاو او دځانګړو مقاصدو لپاره، د ټولو نباتاتو (نیالګیو)، د نباتاتود ځینوبرخواو دنباتاتو د موادو د تضمین څخه ډډه کوي.

دبڼوالی پرمختیایي پروژه د ناروغیو ، ارثی غیر منظم د بل ډول، دمختلفو ډولونو د نیالګیو د لیبلونو دنه موجودیت یا نا په ناسمه توګه لیبل وهل او داسي نور چي په دې طرحي کې شامل دي، مسئوله نه ده. هیڅ بڼوال، بوزغلی لرونکي، دولتي مقام، ټولنه، غیر دولتي موسسه یا بل صلاحیت لرونکی شخص د څرګندونو یا دمحدود تظمین، او یا د بڼوالی د پرمختیایی پروژی په خاطر ددی طر حی په باره کی د مالي مسؤلیت د قبولیت حق نه لري.

**۸ . جریمه**

د افغانستان د بوزغلی لرونکو ملي سازمان به دهغو بوزغلیو په اړه چي د تصدیق د دی اوسنی طرحي څخه ناروا ګټه اخلي، د تطبیقی سزا ګانو په هکله پریکړه کوي.



ددی خپرونی د محتویاتو د IAKAGRAR د سلاح کاری GMBH یواځینی دنده ده چی دا مواد په داسی لاره په کار واچوي چی د اروپایی ټولنی د نظریاتو انعکاس وکړی شي.

## د بنوالو ودي پروژه

د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت

د بنوالو وداني، جمال مينه، کابل، افغانستان

مسوول سړي: ګريګ کولن، د ټيم آمر

afghanistanhorticulture@gmail.com
www.afghanistanhorticulture.org

د پروژې مالي تمويل، اروپا کمسيون له خوا